# معراج

# او

# حقيقت ئې

## د قرآن او صحیح حدیث له مخې


## حکمتیار

د حزب اسلامي افغانستان امیر

**د کتاب پېژندنه:**

نوم: معراج او حقيقت ئې

ليکوال: حکمتيار

لومړی طبع: ثور ١٤٠٣

د چاپ شمېره: ١٠٠٠ توکه

قيمت: ٦٥ افغانۍ

**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**

د میثاق ایثار نشراتي اداره

کابل - دارالامان

Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷

# معراج

# او

# حقیقت ئې

## د قرآن او صحيح حديث له مخي


**حکمتیار**

**د حزب اسلامي افغانستان امير**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

## سريزه

دا رساله د هغو درسي ناستو يوه برخه ده چي د بريا تلويزيون په تالار کې تر سره شوې؛ د معراج په اړه د قرآن او حديث په رڼا کې تفصيلي بحث شوی او اړوندو پوښتنو ته ځوابونه ويل شوي. دا بحثونه مو د مسلمانانو تر منځ د شته اختلافاتو د ختمولو په موخه پيل کړي؛ د مؤمنانو يووالی غواړو نه تفرق او دښمني، غواړو مسلمانان متحد وي او د فکري او مذهبي اختلافاتو له کبله نه سره بېل شي، نه يو بل ته د دښمن په سترګه وګوري او نه يو بل تکفير کړي. جنګ مو يوازي د اسلام له دښمنانو او له هغو سره وي چي د اسلام او مسلمانانو په ضد جنګېږي. موږ د اسلامي امت پر هغو ژورو ژورو پرهرونو وير کوو او اوښکي تويوو چي ستر عامل ئې قومي او مذهبي اختلافات ول، د همدغو کرغېړنو اختلافاتو له کبله ټوټې ټوټې او له ذلت او سپکاوي سره مخامخ شو، هيله مو دا ده چي اسلامي امت د الله تعالی پر مضبوطي رسۍ منګولي ولګوي، متحد شي، خپل تېر برم او عظمت ترلاسه کړي، د ټولو حقه مذاهبو صادق او مؤمن پلويان يو ځل بيا د متحد او تفرق نه منونکي امت په توګه راڅرګند شي؛ د ورونو په څېر يو د بل خوا ته په ډاډ او اطمئنان سره او له کرکې او دښمنۍ پرته ژوند وکړي، نه يو بل تکفير کړي، نه په فروعي مسائلو کې اختلاف د دوی تر منځ په دښمنۍ واوړي، نه اصلي مسائل هېر او په فروعي مسائلو پوري ونښلي، نه ستر ستر خطرناك بهرني او کورني دښمنان له پامه وغورځوي او هغوی ته شا

کړي او په داسي شخړو کي ځان مصروف کړي چي د مسلمانانو تر منځ له فروعي اختلافاتو راولاړېږي. موږ غوښتل او غواړو چي افغان ولس په یوه ډاډمن او متحد اسلامي صف کي راغونډ کړو، پرېنږدو چي افغانان؛ مخصوصاً هغه چي خپلواك، آزاد او سرلوړی اسلامي افغانستان غواړي او دې سپېڅلي هدف ته د رسېدو لپاره هري قربانۍ ته چمتو دي؛ په بېلو بېلو ډلو ووېشل شي، غواړو د دوی سنګر یو وي، د اسلام دوست ئې دوست او دښمن ئې دښمن وي، په ګډه د کورنیو او بهرنیو دښمنانو مقابله وکړي، توره ئې د دښمن پر سر راپرېوځي، ژبه ئې د دښمن په ضد وخوځي، قلم ئې د دښمن په ضد ولیکي، خو متأسفانه ځیني کم ظرف، کم عقل او غرضي کړی د داسي هیلو او هڅو په وړاندي خنډونه راولاړوي، په داسي حال کي چي موږ له لوی دښمن سره په ساړه او تاوده جنګ کي مصروف یو، په داسي حال کي چي نن د تاریخ تر ټولو لوی او اوږد سوړ او تود جنګ د اسلام او اسلامي امت په ضد روان دئ، د مسلمانانو په ضد د نړۍ ټول کفري ځواکونه متحد شوي او د اسلامي هېوادو منافق او مفسد غلام صفته حکام هم ورسره ملګري شوي، د کابل او بغداد په څېر د اسلام ستري کلاګاني د دښمن په لاس کي پرېوتې، په همدې ویرجن او دردناك حالت کي ځیني وایي: موږ په مقلدو مذهبیانو پسي ورروان یو او سنګرونه ئې ترې نیسو!! ځیني وایي: د مذهب تقلید شرك دئ، ځیني وایي: د احنافو په طریقه لمونځ کول لمونځ نه دئ، د دوی لمونځ د سنت خلاف دئ او الله تعالی ئې نه قبلوي!! ځیني وایي: له سنتو وروسته دعاء څنګه ده؟ او دې ته ورته نور مسائل. دښمن خوښ دئ او دا غواړي چي مسلمانان په دغسي مسائلو کي مشغول وساتي، یقیناً چي د دغه بهیر تر شا یا د ځیرک دښمن ناولي لاسونه د فتنو راولاړولو په موخه بوخت دي او یا هغه کم عقل او په غرض او مرض ککړ خلك چي نه د دین په حقیقت پوهېږي او نه د دنیا له حالت خبر دي، نه دوست پېژني او نه دښمن، نه د اسلام غم ورسره

دئ او نه د اسلامي امت درد.
موږ دلته ځیني مسائل د دې لپاره څېړو چي دا توطئه شنډه کړو، د دغو مرموزو کړیو د تبلیغاتو مخه ونیسو، ټولو ته جوته کړو چي موږ غواړو عقیده، مذهب، مسلك، لمونځ او ټول عبادات او معاملات مو سل په سلو کې د قرآن او سنت مطابق وي، همدا مو مذهب دئ؛ د دلائلو له مخي مو غوره کړی؛ نه له دې کبله چي له پلار مور را ته په میراث پاته دئ؛ حنفي مذهب مو تر نورو غوره او د قرآن او سنت مطابق موندلی؛ یوازي هغه څه منو او عمل پرې کوو چي د الله تعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لارښوونو سره مطابقت ولري. هر مسلمان خپل ورور ګڼو، د ټولو حقه مذاهبو پلویانو ته درناوی لرو، شافعي، مالکي، حنبلي، سلفي او هر هغه څوك زموږ دیني ورور دئ چي د الله کتاب قرآن ئې لارښود دئ او د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت ئې تګلاره ده، خپلو وروڼو ته وایو: په فرعي مسائلو کې اختلاف باید تاسو د هغو خلکو په اړه دښمنۍ، حساسیت او ضدیت ته اړ نه کړي چي په اصلي مسائلو کې له تاسو سره متحد دي؛ خدای، قرآن، پیغمبران، آخرت، ملائکي، قضا او قدر مني، د قرآن او سنت په رڼا کې د حلال او حرام پولي پیژني، په ټولو اساسي مسائلو کي له تاسو سره متفق دي، خپل وخت له هغو خلکو سره په شخړو، مشاجرو او مجادلو کې مه ضائع کوئ چي اصلي دښمن ئې هېر کړی، اصلي کار ئې پرېښی، د دښمن په ضد د جهاد سنګر ترې پاته دئ، د مسلمانانو په ضد ئې د جدل سنګر پرانیستی او د دوی په ضد د خولې ډزي کوي. پر دوی زړه سوی ولرئ او ورته ووایئ: که ګمان کوې چي پر فرعي مسائلو د ترکیز له لاري به د الله تعالی رضاء ترلاسه کړې او جنت الفردوس به دي په برخه شي، نو خپل شوق پوره کړه، خو په دې پوه شه چي نه د الله تعالی رضاء په دومره آسانۍ ترلاسه کېدی شي او نه جنت دومره ارزانه متاع ده چي په څو وړو او سړو خبرو واخیستی شي، د قرآن دغه آیت ئې مخي ته

کښېږدئ:

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُواْ ٱلْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمْ وَيَعْلَمَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٤٢﴾ آل عمران

آیا داسي مو انګېرلې چي جنت ته به تر هغه وړاندي داخل شئ چي لا الله نه ستاسو مجاهدین معلوم کړي او نه ئې صابران معلوم کړي؟!!

یعني دا هسي یوه خوشې هیله او بې بنسټه انګېرنه ده چي تاسو به یوازي د ایمان په دعوی سره جنت ته ورومئ او د جنت دروازې به په خپلي مخي کي پرانیستې مومئ؛ مخکي له دې چي له آزموینو تېر شئ، په امتحانونو کي بریالي شئ او د آزموینو په ترځ کي جنت ته د ننوتو وړتیا ثابته کړئ!! دا هیله د الله له سننو سره اړخ نه لګوي، الله جنت د هغو لپاره جوړ کړی چي په آزموینو کي بریالي شي، جنت د مجاهدینو او صابرانو ځای دئ، په آزموینو کي الله تعالی دا عملاً څرګندوي چي څوک مجاهد او صابر دئ او د جنت مستحق، د چا دوستي او دشمني د خدای لپاره وه، د خدای دوست ئې دوست ګڼلی او د خدای دشمن ئې دشمن، دا باید عملاً ثابت شي، ته چي د خدای له دشمن سره دشمني ونه کړې او د هغه له دوست سره دوستي؛ او دا عملاً و نه ښیې؛ دا هیله مه کوه چي الله به تا په خپل فضل او رحمت کي شامل کړي او جنت ته به درومي، له دې آیت داسي معلومېږي چي له (مجاهد) او (صابر) پرته بل څوک جنت ته نشي ننوتی. او له دې دا خبره معلومېږي چي د (جهاد) او (صبر) لمن ډېره پراخه ده او د انسان ټول ژوند احتواء کوي.

اسلامي امت هغه مهال ستر نړیوال ځواک وو چي متحد وو؛ د نړۍ پر لویي پراخي برخي ئې حکومت کاوو، د آسیا، افریقا او اروپا پراخي برخي ئې تر واك لاندي وې، د اوسنۍ اروپا پر دغو هېوادونو ئې له درې تر پنځو پېړیو حکومت کړی: بلغاریا ٥٤٥ کاله، سربستان ٤٠٠ کاله، یونان ٤٠٠ کاله، مونتینیګرو جمهوریت ٥٣٩ کاله، بوسنیا ٥٣٩

کاله، کروشيا ۵۳۹ کاله، مقدونيه ٤۹۰ کاله، سلوفينيا ۲۵۰ کاله، رومانيا ٤۹۰ کاله، سلواکيا ۲۰ کاله، مجارستان ۱٦۰ کاله، مولدوفيا (مالديپ) ٤۹۰ کاله، أوکراين ۳۰۸ کاله، آذربايجان ۲۵ کاله، گرجستان ٤۰۰ کاله، ارمنستان ۲۰ کاله، جنوبي قبرص ۲۹۳ شمالي قبرص ۲۹۳ کاله، د روسيې جنوبي برخي ۲۹۱ کاله، کوسوو ۵۳۹ کاله، دا ټول يوازي په اروپا کي د مسلمانانو لاس کي وو، ځلور پنځه پيړۍ ئې ورباندي حکومت وکړو، راشئ خپل ننی وضعيت د اسلامي امت له مخکيني وضعيت سره مقايسه کړو، هغه لوی هيواد او ستر امت ټوټې ټوټې شوی، د کلي په څېر هيوادونو باندي بدل شوی، لويو کليو ته ورته هيوادونه، عربي هيوادونه په ګڼ شمير وړو وړو هيوادونو بدل شوي، او ټول هم داسي چي د بهرنيو مستعمرې دي، له اقتصادي لحاظه د هغوی مارکيټونه، په ډيرو کي هم د بهرنيو اډې، په ډيرو باندي هم کلونه کلونه بهرنيانو حکومت کړی؛ ترې وتلي دي خو سره لدې هم پری حکومت کوي، الجزاير ئې يو مثال دئ، فرانسويانو نيولی تر يو ميليون زيات الجزايريان ئې ووژل، ترې وتلي خو نن هم پري حکومت کوي او د ډيرو اسلامي هيوادونو حالت همداسي دئ، په ځينو کي ئې لا اوس هم لويي لويي اډې دي چي ټوله سيمه له همدغو اډو اداره کوي، نن د نړۍ ټول جنګونه په اسلامي هيوادونو کي دي، هيوادونه يو د بل په خلاف جنګوي؛ لکه د عراق او ايران جنګ، د عراق او کويټ جنګ، دا اوس د نړۍ ټول جنګونه په اسلامي هيوادونو کي دي، د نړۍ ټول مهاجرين مسلمانان دي په سلو کي تر نوي زيات ئې.

خو له يوې خوا قومي او نژادي اختلافات او له بلي خوا مذهبي تفرقه او اختلاف د دې باعث شو چي دا ستر عالمي ځواك په وړو وړو هېوادو تجزيه شي، دشمنان ئې په خپلو منځونو کې سره ووېشي او هره برخه ئې د يوه اروپايي هېواد په مستعمرې بدله شي؛ په ډېرو مواردو کې قومي او نژادي اختلاف ته مذهبي رنګ هم ورکړی شو؛ که عربانو له

اروپايانو سره د عثماني خلافت په ضد لاس يو کړی او که ايرانيانو؛ دواړه د دښمن په ګټه جنګېدلي خو خپل اختلاف ته ئې نژادي - مذهبي بڼه ورکړې.

د مذهبي اختلافاتو په پارولو کې د جعلي، متعارض او متضادو رواياتو لويه ونډه وه؛ دا د اسلام او د هر دين لپاره لويه فتنه وه او ده. د امت ډېري ستونزې له همدې رواياتو راولاړې شوي؛ که تاسو د يهودانو او مسيحيانو مذهبي اختلافاتو ته ځير شئ وبه ګورئ چې منشأ ئې همدا روايات دي، که بايبل د مسيحيانو هغه سپېڅلی کتاب ولولئ چې دوی ئې د تورات، انجيل او زبور مجموعه ګڼي؛ نو وبه ګورئ چې په دې بايبل کې نه تورات شته، نه انجيل او زبور او نه کوم بل الهي کتاب؛ بلکې ټول بايبل د جعلي رواياتو او بې بنسټه مسخره قصو مجموعه ده، د قصو محور ئې د بني اسرائيلو د مختلفو قبيلو شجرې او په دوی پورې تړلي قضايا دي!!

د مسلمانانو تر منځ اختلافات هم له جعلي او متضادو رواياتو څروبه کېږي. متأسفانه موږ د حديث او سنت په اړه له دوو ډلو سره مخامخ يو: يوه ئې انکار کوونکې او بله ئې انکاروونکې؛ يوه ئې په خپله له حديث او سنت انکار کوي، بله ئې نور انکار ته اړباسي؛ اسلام ته د دوهمې ډلې خطر تر لومړۍ زيات دئ؛ هغه چې ډېر وچ او لانده د حديث په نامه وړاندې کوي، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته متضاد او متعارض اقوال او افعال منسوبوي، داسي څه ورته منسوبوي چې هم د قرآن خلاف وي او هم د عقل، رسول الله صلی الله عليه و سلم په داسي صفاتو يادوي چې الله تعالی نه دئ پرې ستايلی، دوی له سنت او اسلام سره تر هر چا زياته دښمني کوي، له سنت انکار نه بازار لري او نه په امت کې د نفوذ مجال، خو متضاد او متعارض روايات هم بازار لري، هم په امت کې د خورېدو مجال او هم د اختلافاتو راولاړولو توان، ډېر کم عقل دښمن به دا هڅه کوي چې له حديث او سنت د انکار لار

غوره کړي او له دې لاري اسلام ته کوم تاوان ورسوي، دښمن هغه ډلي خوښوي، جوړوي او پالي چي د دین او مذهب په نامه د دین جرړي پرې کړي، له دین او مذهب داسي تعبیر وړاندي کړي چي د هر چا کرکه راپاروي. موږ ټول امت او د امت مجاهد علماء، هدفمن دعات او د اسلام هر دردمن خواخوږی دې ته رابلو چي راوړاندي شي او د دغو فتنو د مقابلې لپاره ملا وتړي. موږ له هیڅ واقعي مسلمان سره، که د کوم مذهب پلوي وي او یا سلفي او غیر مقلد وي هیڅ ستونزه نه لرو، غواړو ټول په یوه صف کې راغونډ شي، ستونزه مو له هغو کړیو سره ده چي د مرموزو شبکو له لوري استخدامېږي او غواړي د مذهب تر نامه لاندي په مسلمانانو کې اختلافات راولاړ کړي او له اصلي دښمن او اصلي کار ئې مخ بل لوري ته واړوي.

په مسلمانانو کې اختلافات یا مفسدو زعماءو راولاړ کړي او یا درباري مفتیانو او دین پلورو تش په نامه علماءو. تر لومړۍ ډلي دوهمه ډېره خطرناکه ده؛ لومړۍ ډله د دوهمي ډلي په مرسته د اختلافاتو رامنځته کولو مجال او امکان ترلاسه کوي. د دښمن له لوري توظیف شوي مبلغین او مفتیان په جعلي روایاتو سره کولی شي په مسلمانانو کې مذهبي اختلافات راولاړ کړي؛ که تاسو په دینپالو کې د اختلافاتو عوامل ولټوئ نو درته جوته به شي چي جرړي ئې په متعارض، متضاد او جعلي روایاتو کې دي. او د دې روایاتو شمېر دومره زیات دئ چي هر محدث، فقیه او امام له سل گونو زرو روایاتو دوه درې زره د استناد وړ موندلي.

حزب اسلامي دغه لار غوره کړې، د امت د راویښولو، په یوه صف کې د ټولو مسلمانانو د راغونډولو او په گډه د ټولو کورنیو او بهرنیو دښمنانو د مقابلې لپاره ئې د چمتو کولو ملا تړلې، د دغي تگلاري له امله وو چي نه یوازي د افغان ولس اکثر صالح او هوښیار مجاهدین او د اسلام دردمن او هدفمن خواخوږي د حزب په لیکو کې تنظیم شول، په لنډه موده کي یو لوی حزب ترې جوړ شو، له دوو سترو ځواکونو

سره ئې اوړد او سخت تصادم درلود، دواړو د لومړي دښمن په فهرست کي نیولی او د خطرناک او ستر دښمن په توګه منلی؛ د دواړو خلاف جهاد کي د مقاومت او جهاد د ملا تیر وو، د ولس تر ټولو صالح او اسلام ته ژمن خلک د هغه په محور راټول شوي وو او الله تعالی د سترو سترو کارونو توفیق او سعادت ور په برخه کړ، دا څه وړه خبره نه وه؛ د شوروی اتحاد په خلاف د ولس را پاڅول، منظمول او مبارزي او قربانۍ ته چمتو کول، په داسي حال کي چي نه ئې وسایل په لاس کي ول او نه بهرني حامیان، بس د الله په توکل او مرسته ئې دا مبارزه پیل کړه او ټول ملت ئې تر څنګ ودرید، پنځه میلیون په هغه جهاد کي د همدي هدف او آرمان لپاره هجرت ته چمتو شول چي حزب اسلامي ئې بیرغ اوچت کړی وو او شپږ میلیون وروسته د ناټو په خلاف جهاد په دوران کي، عملاً ئې وښودله چي آزادۍ ته د رسېدو رغنده او سمه لار همدا ده، د مسلمانانو د یووالي لار، پر اساسي مسائلو ترکیز کول، لوی لوی اهداف ځان ته ټاکل، ستر ستر دښمنان پېژندل او مقابلې ته ئې ملا تړل، په وړو وړو خبرو کي نه مصروفېدل، وړې وړې جبهې نه پرانیستل، په داخلي شخړو او منازعاتو کي نه مصروفېدل؛ همدا باعث شول چي موږ په دې دوه سترو جهادونو کي الحمد لله بریاوي ترلاسه کړو او خپلو لویو لویو آرمانونو ته ورسېږو، موږ نه دي غوښتي چي له هیڅ اسلامي ډلي سره په جګړو کي ښکیل شو، دا نن چي موږ کوم موقف غوره کړی ده؛ تل مو همدا موقف وو، د مبارزي په اوږدو کي د حزب اسلامي موقف همدا وو، دلته یوه ډله راغلې قدرت ئې ترلاسه کړی؛ حزب اسلامي بلا قیدو شرط د هغه مرسته کړې؛ سره له هغه اختلافاتو چي ورسره لرو او سوابق هم تاسو ته معلوم دي چي څنګه وو؛ د حزب سوابق هم او د همدي ډلي سوابق هم، اما موږ لویو لویو اهدافو او آرمانونو ته په پام سره د اوسني وضعیت حمایت کړی؛ بلا قیدو شرط له کومي طمعي او توقع پرته، مخکي مو هم ویلي چي څوک اسلامي نظام قائم کړي موږ

خپل هدف او آرمان ته رسيدلي يو، که څوک اهل او صالحو کسانو ته قدرت وسپاري او د خير کوم ګام واخلي موږ به ئې ملګري وو، هره سمه خبره چي د هغوی له خولې را ووځي موږ به ئې حمايت او تأييد کوو، نه يوازي د افغان ولس تر ټولو صالح او اسلام ته ژمن شخصيتونه د حزب په ليکو او صفوفو کي منظم شول؛ بلکي د شوروی اتحاد خلاف د جهاد په دوران کي د دنيا له ګوټ ګوټ ډير مخلص او نخبه مجاهدين، اسلام ته ژمن، خدای پال او صادق چي په جهاد کي د شرکت په موخه راغلي، د مجاهدينو په سنګرونو کي جنګيدلي، د ډېرو ويني دلته توی شوې دي، ډېر ئې دلته په شهادت رسيدلي دي او همدلته دفن شوي دي، د هغوی هم غوڅ اکثريت د حزب اسلامي په ليکو کي تنظيم شول او دې ته ئې ترجيح ورکوله چي د حزب په سنګر کي واوسي؛ که اشتباهاً کله د بل تنظيم صف ته تللي دي؛ ژر متوجه شوي او د حزب ليکو ته راغلي دي، لويه وجه ئې همدا وه؛ دعاء مو تل دا وه او ده چي الله تعالی موږ ته د حق لاره وښيي او په دې لار د تلو توفيق راکړي، له باطلو افکارو او تګلارو مو خوندي وساتي، باطل را وپيژني او د باطل له ملګرتيا د اجتناب توفيق زموږ په برخه کړي؛ د دوست او دښمن د تفکيک توفيق راکړي؛ داسي چي ستا د دوست صادق ملګري او ستا د دښمنانو کلک او نه پخلا کېدونکي دښمنان وو.

اللَّهُمَّ أَرِنَا الْحَقَّ حَقًّا وَأَلْهِمْنَا اتِّبَاعَهُ

وَأَرِنَا الْبَاطِلَ بَاطِلًا وَأَلْهِمْنَا اجْتِنَابَهُ

حکمتيار

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

## معراج او حقيقت ئې

الْحَمْدُ لِلَّهِ وَكَفَى وَسَلامٌ عَلَى عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَى وَبَعد: اَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

سَأَلَ سَآئِلُۢ بِعَذَابٖ وَاقِعٖ ۝١ لِّلۡكَٰفِرِينَ لَيۡسَ لَهُۥ دَافِعٞ ۝٢ مِّنَ ٱللَّهِ ذِي ٱلۡمَعَارِجِ ۝٣ تَعۡرُجُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥ خَمۡسِينَ أَلۡفَ سَنَةٖ ۝٤ فَٱصۡبِرۡ صَبۡرٗا جَمِيلًا ۝٥ المعارج

په اسلامي امت کې د نورو اختلافاتو تر څنګ د معراج د څرنګوالي په اړه هم د شديد اختلاف شاهد يو، دا اختلاف هم له متعارضو رواياتو راولاړ شوی، ډېرې روايات داسې دي چې ښيي دا يوه رؤيا او روحاني سفر وو؛ خو ځيني ئې داسې دي چې کېدې شي په تکلف سره دا ترې راوايستل شي چې ښايي د معراج سفر به جسماني وو او په ويښه تر سره شوی.

د معراج لغوي معنی د عروج او لوړتګ وخت، وسيله او مکان دئ؛ په اسلامي فرهنګ کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه روحاني سفر ته ويل شوې چې له مسجد الحرام تر مسجد الاقصی (بيت المُقَدَّس) او سدرة المنتهی پورې وو او د الإسراء او النجم په سورتونو کې ورته اجمالي اشاره شوې او هم په ګڼ شمېر روايتونو کې چې شمېر ئې شا او خوا ۲۵ ته رسېږي.

قرآن د معراج په اړه څو مختصر آيتونه لري؛ له همدې آيتونو په څرګنده توګه معلومېږي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم معراج يوه رؤيا وه؛ د قرآن له هيڅ آيت؛ نه صراحتاً معلومېږي چې دا سفر د ويښې سفر او جسماني وو او نه اشارتاً. که دا سفر جسماني او د ويښې وی نو په قرآن کې به په داسې کامل وضاحت او تفصيل سره د مخاطب مخې ته ايښودل شوی وو چې د مناقشې او شك لپاره به هيڅ مجال په کې نه وو؛ همغسې لکه چې الله تعالی موسی علیه السلام؛ دوه ځلې د طور په اړخ کې خپل حضور ته ومنلو: يو ځل هغه مهال چې له مدين د مصر په لور روان وو؛ د طور په وادي کې او د شپې له لوري؛ لار ترې ورکه شوې وه، کورنۍ (مېرمن او بچيان) ئې ورسره وو، يخني وه، لري ئې رڼا تر سترګو شوه؛ په دې طمع چې هلته به شپانه راټول شوي وي او اور ئې بل کړی دئ؛ کېدی شي له هغوی کومه سکروټه يا معلومات تر لاسه کړم چې لار راوښيي، په همدې طمع هغه لور ته خوځېدلی، هلته د طور ښي اړخ ته له مبارکې ساحې او يوې شنې ونې پرې غږ شوی چې اې موسی! زه رب العالمين يم، کپې (پڼې) دې وباسه؛ ته په سپېڅلي ځای کې يې. هملته په پيغمبرۍ مبعوث شو؛ دا ئې يو معنوي معراج وو. له ګڼ شمېر معجزو سره د فرعون لوري ته ولېږل شو؛ او دوهم ځل هغه مهال چې ده ته تورات سپارل کېدو؛ دېرش ورځې د طور په ميقات کې تم شو او لس نوري پرې اضافه شوې؛ همدا مهال هغه ته تورات د ډبرو په لوحو کې ليکل شوی ورکړ شو؛ دا په حقيقت کې د موسی علیه السلام دوهم معراج وو؛ قرآن په پوره تفصيل او وضاحت سره دا هر څه بيان کړي؛ د معراج معنی لوړ تګ دئ؛ فرشتې هم ځانته معراج لري؛ د ځينو ئې معراج هر پنځوس زره کاله وي؛ د مؤمن معراج د ده لمونځ دئ.

د معراج په اړه د اختلاف ستونزه له متعارضو رواياتو راولاړه شوې؛ که متعارض روايات نه وی او د قرآن وينا وروستۍ وينا ګڼل شوې وی

او هغه روايات حذف شوي وی چي د قرآن له وينا سره تعارض لري؛ نو امت به له دې ستونزي سره نه مخامخ کېدو. تفصيل به ئې د درس په دوران کي وګورئ.

## قرآن د معراج په اړه څه ويلي؟

غوره دا ده چي د بحث په پيل کي د معراج اړوند آيتونه په دقت سره له نظر تېر کړو؛ قرآن فرمايي:

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١ الإسراء

پاکي ده هغه ذات ته چي يوه شپه ئې خپل بنده له مسجد الحرام تر هغه مسجد الاقصی پوري بوت چي موږ ئې چاپېر ور برکتي کړې؛ د دې لپاره چي ځيني خپل آيتونه وروښيو. يقيناً چي هغه ښه ليدونکی اورېدونکی دئ.

په دغه مبارك آيت کي د معراج اړوند دا لارښووني زموږ مخي ته اېښودل شوې:

- دا سفر په شپه کي ترسره شوی.
- له مسجد الحرام تر مسجد الاقصی پوري بېول شوی.
- د سفر موخه دا وه چي الله تعالی خپل آيتونه وروښيي.
- په دې اړه چي خلکو څه ويلي الله تعالی اورېدلي.
- په دې سفر کي چي پر رسول الله صلی الله عليه و سلم څه تېر شوي الله تعالی ليدلي.

د النجم په سوره کي په دې اړه مزيد وضاحت کوي او فرمايي:

أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ١٢ وَلَقَدۡ رَءَاهُ نَزۡلَةً أُخۡرَىٰ ١٣ عِندَ سِدۡرَةِ

ٱلۡمُنتَهَىٰ ۝١٤ عِندَهَا جَنَّةُ ٱلۡمَأۡوَىٰٓ ۝١٥ إِذۡ يَغۡشَى ٱلسِّدۡرَةَ مَا يَغۡشَىٰ ۝١٦ مَا زَاغَ ٱلۡبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ۝١٧ لَقَدۡ رَأَىٰ مِنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ ۝١٨ النجم

نو آيا د هغه څه په اړه ورسره شخړه کوئ چې دی ئېويني؟!! په داسې حال کې چې هغه ئې يو ځل بل هم ليدلی وو، د سدرة المنتهی (وروستۍ بېرې) خوا ته؛ چې هغې ته څېرمه جنت المأوی (د جنت هستوګنځی) دئ، هغه مهال چې سدرة المنتهی ځانګړې شي پوښلې وه، نه سترګې کاږه ليدل کړې او نه تېروتې، يقيناً د خپل رب ځيني ستر ستر آيتونه ئې وليدل.

دا آيتونه ښيي چې:

• قريشو د دغې رؤيا له امله له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره سخته شخړه او مجادله پيل کړې. هغه څه ئې نه منل چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې رؤيا کې ليدلي وو.

• رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې رؤيا کې جبرئيل عليه السلام په خپلې اصلي بڼه کې ليدلی او دا د ده دوهم ځل ليدل وو.

• دا ليدنه په سدرة المنتهی کې شوې، د سدرة المنتهی له نامه معلومېږي چې دا د آسمانونو پای او انتهاء ده، له دې آخوا نه لوړه شته او نه مخلوق شته، دا داسې وګڼئ لکه چې د يوه جګ غره په ډډه کې د ونو ځنګل وي، دا ونې تر هغه ځای راټوکېدلې وي چې تر هغه لوړ د هوا د سوړوالي او د آکسيجن د کموالي له امله نه بوټي راشنه کېږي او نه ونې، د دې ځنګله د وروستۍ ونې په يادولو سره همدا مطلب افاده کېږي چې تر دې آخوا نوري ونې نشته، سدرة المنتهی همداسې ده.

• د قرآن د وينا له مخې جنت المأوی هم دلته دئ، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم هم اوه آسمانونه ليدلي او هم جنت المأوی. رسول الله صلی الله عليه و سلم تر دغه ځای تللی او همدلته ئې دا روحاني سفر پای ته رسېدلی.

- سدرة المنتهى داسي څه پوښلې وه چي د انسان په قاموس کي د هغه د تشريح لپاره الفاظ نشته.
- په دې رؤيا کي ئې د الله تعالى نور ستر ستر آيتونه هم ليدلي.

د قرآن صريح آيتونه موږ ته لارښوونه کوي چي پيغمبر عليه السلام دوه ځلي جبرئيل عليه السلام په خپلي اصلي څېرې کي ليدلى، يو ځل داسي چي د آسمان افق پرې ډك وو، خو ده ته ډېر (د قاب قوسين په اندازه) ورنږدې شوى او د الله تعالى وحي ئې وررسولې او بل ځل په سدرة المنتهى کي د معراج په شپه.

د مفسرينو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چي له جنت المأوى مراد همغه جنتونه دي چي په آخرت کي به له محاسبي وروسته د مؤمنانو په برخه کېږي که هغه جنت چي اوس او تر آخرت مخکي د شهداءو ارواح په کي اوسي، په صحابه وو کي هم ځيني يوه رأيه لري او ځيني بله؛ قتاده رحمه الله په دوهمي رأيي دئ او ابن عباس رضي الله عنهما هم دغه رأيه لري او دا پرې اضافه کوي چي د آخرت جنت به په زمکي کي وي نه په آسمان کي؛ د قرآن وينا هم دا ده چي دا جنت به هم په زمکه کي وي، دا زمکه به ختمېږي او بله لويه او ستره زمکه به رامنځته کېږي، ټول انسانان چي د پيدايښت له لومړۍ ورځي تر قيامت پوري د زمکي پر سر پيدا شوي دي؛ د دې نوې زمکي په يوه هوار ميدان کي به؛ د الله تعالى په وړاندي حشر کېږي. جنت او دوزخ به دوى ته نژدې کړى شي، يعنې جنت ئې هم دلته دئ او دوزخ ئې هم دلته. حسن بصري رحمه الله وايي چي جنت المأوى همغه جنت دئ چي مؤمنان به په آخرت کي ورننوځي.

## هغه آيتونه چي وايي معراج يوه رؤيا وه

د الإسراء سورې په ٦٠ آيت کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د يوه خوب يادونه شوې چي مفسرين همدا خوب د معراج خوب ګڼي؛ آيت دا دئ:

وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِ ۚ وَمَا جَعَلْنَا ٱلرُّءْيَا ٱلَّتِىٓ أَرَيْنَٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلْمَلْعُونَةَ فِى ٱلْقُرْءَانِ ۚ وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَٰنًا كَبِيرًا ﴿٦٠﴾ الإسراء

او کله چې مو درته وویل: یقیناً چې ستا رب پر دغو خلکو احاطه کړې؛ او دغه رؤیا (خوب) چې تا ته مو دروښود؛ هغه مو فقط د خلکو لپاره یوه آزموینه گرځولې؛ او په قرآن کې (یاده شوې) هغه لعنت شوې ونه او وېروو ئې؛ نو (دغو خبرو) یوازې د دوی ستر طغیان لازیات کړ.

په دې مبارك آیت کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا خوب د (الرؤیا) په معرفه صیغه یاد شوی؛ او دا ښیي چې د دې رؤیا یادونه تر دې آیت وړاندې شوې ده؛ که لږ دقت وکړو او مخکیني آیتونه له نظره تېر کړو نو راته جوتېږي چې په دې سره د همدې سورې لومړي آیت ته اشاره شوې؛ چې وایي:

سُبْحَانَ الَّذِى أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِى بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴿١﴾ الإسراء

پاکې ده هغه ذات ته چې یوه شپه ئې خپل بنده له مسجدالحرام (محترم جومات) تر هغه مسجد الاقصی (لرې جومات) پورې بوت چې موږ ئې شاو خوا وربرکتې کړې؛ چې ځینې خپل آیتونه وروښیو، یقیناً چې هغه ښه لیدونکی اورېدونکی دئ.

الله تعالی خپل پیغمبر ته دا آیتونه او الهي نښې په همدې رؤیا کې ورښودلې. یعني دا إسراء او د آیتونو ښودنه همدا رؤیا وه.

د همدې رؤیا او په هغې کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ښودل شوي آیتونه د خلکو لپاره یو آزمېښت وو؛ همغسې لکه د قرآن دا وینا چې الله تعالی پر خلکو احاطه کړې؛ داسې څه نښې کولی چې الله

تعالی ئې د کولو توفيق او اجازه ورنه کړي او په قرآن کې د هغې لعنت شوې ونې يادونه (چې د دوزخ په تل کې راټوکېږي او د دوزخيانو خوراك به وي)؛ او په همدې سره کافران وېروي؛ دا خبري د دې باعث شوې چې د دښمنانو طغيان لا زيات شي.

ځينو مفسرينو د رسول الله صلی الله عليه و سلم دا رؤيا د معراج اړوند رؤيا ګڼې؛ د نورو دلائلو تر څنګ وايي: ١- د رسول الله صلی الله عليه و سلم دا رؤيا په همدې سورې کې راغلې چې د إسراء او معراج يادونه په کې شوې؛ ٢- له معراج پرته د رسول الله صلی الله عليه و سلم بله داسې رؤيا نه مومو چې د دښمنانو لپاره د فتنې او آزموينې باعث وي او د دښمن طغيان ئې زيات کړی وي. يعني:

- دا هر څه فقط يوه رؤيا وه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په خوب کې ښودل شوې.
- خلکو ته دا رؤيا يوه آزموينه وه، ځينو ته ئې منل ګران وو، ځينو هغه له ځانه جوړه شوې قصه وګڼله، ځينو د تبليغاتو لپاره وکاروله او ويل به ئې دا دئ دا پيغمبر اوس ادعاء کوي چې په يوه شپه کې تر مسجد الاقصی پوری تللی، د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام امامت ئې کړی، تر اوم آسمان پوري رسېدلی، په هر آسمان کې ئې يو يو پيغمبر ليدلی، جنت او دوزخ ئې په خپلو سترګو ليدلي او... دا رؤيا د دوی لپاره داسې فتنه وه لکه په قرآن کې چې د دوزخيانو په اړه يادونه وشوه چې خوراك به ئې د زقوم هغه تريخ بوټی وي چې د دوزخ په تل کې به راټوکېږي، قريشو دا تبليغات پيل کړل چې آيا په اور او هغه هم د دوزخ ستر اور کې د بوټي او ونې راشنه کېدا ممکنه ده؟! دا که پرون د قريشو تبليغات وو؛ نن د سروش په څېر سيکولران هم د هغوی همدا خبره تکراروي؛ او وايي: په اور کې د بوټي شنه کېدا د عقل او واقع خلاف خبره ده؛ موږ ئې ځواب ورکړی؛ او ورته ويلي مو دي: هو د دوزخ اور به همداسې وي؛ يو څه به سوزوي او بل به روغ رمټ پرېږدي؛ همداسې لکه نن چې

مايکروويو داش کې اوبه په پلاستيکي لوښي کې واېښې خو لوښی نه سوزي؛ غوښه په رابري لوښي کې پخوي. يا د قرآن هغه وينا چې الله تعالی کافران احاطه کړي، داسي څه نشي کولی چې الله تعالی ئې د کولو توان او توفيق ورنه کړي؛ قريشو له دې هم تبليغاتي خبره جوړه کړه او ويل ئې: که داسي وي نو د محمد (عليه السلام) خدای ولي د هغو مخه نه نيسي چې پيغمبر او د ده ياران ځوروي او تعذيبوي؟!! قرآن ئې مناسب ځواب ورکړی.

لکه چې قريشو د قرآن پر دغو خبرو ملنډې وهلې او هغه ئې د منلو وړ نه ګڼلې؛ ستا د دغي رؤيا په اړه هم همدا کار کوي!!

## د النجم سوره کې د معراج په اړه څه ويل شوي؟

په مخکيني درس کې مو د معراج په اړه د قرآن هغه آيتونه وڅېړل چې د إسراء سورې په لومړي او ٦٠ آيتونو کې او د النجم سورې په لومړيو اتلسو آيتونو کې راغلي. د إسراء سوره د بعثت يولسم دولسم کال کې او د معراج له سفر وروسته او د النجم سوره يا ټوله او يا همدا ١٨ آيتونه ئې د الإسراء له سورې وروسته نازل شوي؛ دا ځکه چې په دې آيتونو کې راغلي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم جبرئيل دوه ځلي ليدلی؛ دوهم ځل ئې په سدرة المنتهی کې وو. او سدرة المنتهی د معراج د سفر وروستی پړاو وو؛ اتلسم آيت وايي چې د خپل رب ستر ستر آيتونه ئې وليدل؛ او دا همغه څه دي چې د إسراء سورې په لومړي آيت کې په دې صيغه راغلي: لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ : چې خپل آيتونه ورښيو. د النجم سورې آيتونه دا دي:

وَٱلنَّجۡمِ إِذَا هَوَىٰ ۞١ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمۡ وَمَا غَوَىٰ ۞٢ وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ۞٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ۞٤ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلۡقُوَىٰ ۞٥ ذُو مِرَّةٖ فَٱسۡتَوَىٰ ۞٦ وَهُوَ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ۞٧ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ۞٨ فَكَانَ قَابَ قَوۡسَيۡنِ

أَوْ أَدْنَىٰ ﴿٩﴾ فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ أَوْحَىٰ ﴿١٠﴾ مَا كَذَبَ ٱلْفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ ﴿١١﴾ أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ﴿١٢﴾ وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ﴿١٣﴾ عِندَ سِدْرَةِ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴿١٤﴾ عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ ﴿١٥﴾ إِذْ يَغْشَى ٱلسِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ﴿١٦﴾ مَا زَاغَ ٱلْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ﴿١٧﴾ لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلْكُبْرَىٰٓ ﴿١٨﴾ النجم

١- قسم په ستوري چي کله ناځاپه وغورځي، ٢- ستاسو ملګری نه تېروتی او نه بې لاري شوی، ٣- او نه له خپلي هوی او هوس خبري کوي، ٤- دا نه دئ مګر داسي وحي چي وحي کېږي، ٥- د مضبوط ځواك خاوند ورښودلی، ٦- د مکنت او متانت خاوند، چي برابر شو؛ ٧- حال دا چي هغه په لوړ پاس کي وو، ٨- بيا نژدې شو نو کوز راغی، ٩- نو د دوو ليندیو په واټن وو يا تر دې هم ورنږدې، ١٠- نو د ده بنده ته ئې هغه څه وحي کړ چي وحي ئې کړ، ١١- نو دغه زړه هغه څه دروغ ونه ګڼل چي ليدلي ئې وو، ١٢- نو آيا د هغه څه په اړه ورسره شخړه کوئ چي دی ئې ويني؟!! ١٣- په داسي حال کي چي هغه ئې يو ځل بل هم ليدلی وو، ١٤- د سدرة المنتهی (وروستۍ بېري) خوا ته، ١٥- چي هغې ته څېرمه جنت المأوی (د جنت استوګنځی) دئ، ١٦- هغه مهال چي سدرة المنتهی ځانګړي شي پوښلې وه، ١٧- نه سترګي کاږه ليدل کړي او نه تېروتې، ١٨- يقيناً د خپل رب ځيني ستر ستر آيتونه ئې ليدلي.

له دې آيتونو معلومېږي چې اصلاً د معراج سفر پيغمبر عليه السلام ته د سترو الهي آيتونو دښودلو لپاره وو، معجزه نه وه، نورو ته ئې نه دي ښودلي، قريشو ته ئې نه دي ښودلي، خپله پيغمبر عليه السلام ته ئې ښودلي. د هغو آيتونو مصداقونه ئې عملاً ورښودلي چي د غيب په عالم کي دي او پيغمبر عليه السلام يوازي د وحي له لاري ورباندي پوه شوی دئ نه مشاهدتاً. دې ته اړ وو، ضرورت ئې درلودو چي دا په خپلو سترګو وګوري چي ايمان او يقين ئې بشپړ او مضبوط شي، د يوه داعي لپاره همداسي د خپل دعوت په ارتباط کامل باور اړين او ضروري دئ، د

همدې لپاره الله تعالی وغوښتل چې هغه ته دا ستر ستر آیتونه د معراج د سفر په دوران کې وروښيي چې په خپلو سترګو ئې وګوري؛ خو نه د مخ په سترګو بلکې د زړه په سترګو او نه په ویښه بلکې په رؤیا کې.

په قرآن کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم دوه خوبونه راغلي: لومړی ئې د إسراء سورې په ٦٠ آیت کې راغلی او دوهم ئې د الفتح سورې په ٢٧ آیت کې داسې راغلی:

لَّقَدْ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءْيَا بِٱلْحَقِّ ۖ لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ ۖ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا۟ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾ الفتح

یقیناً چې الله د خپل رسول حقیقي خوب رښتینی کړ؛ که خدای وغوښتل حتماً به مسجدالحرام ته په داسې حال کې خوندي او په امن سره ننوځئ چې (له عمرې وروسته به) خپل وېښتان یا خریئ یا لنډوئ، وېره به نه لرئ، نو په هغه څه پوه شوی چې تاسو پرې پوه نه یاست، تر دې وړاندې ئې بله نژدې بریا او فتح مقدر کړې.

د معراج خوب د ټولو قریشو (مؤمن او غیر مؤمن) لپاره فتنه او آزموینه وه؛ او د حدیبيې خوب د مؤمنانو لپاره یوه آزموینه؛ هغوی د همدې رؤیا له مخې یوه خطرناك سفر ته چمتو شول؛ لومړی ځل دئ چې د دښمن تر واك لاندې مکې ته داخلېږي؛ هغه هم د دښمن له اجازې او موافقې پرته؛ خو کله چې د دوی مخنیوی کېږي او خبره د حدیبيې معاهدې ته رسېږي؛ نو د همدې معاهدې په اړه د دوی ستره اندېښنه دا وه چې د معاهدې یو بند د هغې رؤیا او خوب خلاف دئ چې د عمرې په اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم لیدلی، هغه خوب لیدلی چې عمره به کوي او د دغې رؤیا له مخې د مسلمانانو دا لوی کاروان مکې ته راغلی؛ خو دا دئ له عمرې پرته بېرته ستنېږي!! رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی د دغې اندېښنې او تشویش په اړه هغوی ته ویل: که دا رؤیا سږ کال ترسره نه شوه؛ إن شاء الله

په راتلونکي کال کې به ترسره شي، ما ته په خوب کې دا نه وو ويل شوي چې تاسو به سږ کال عمره کوئ. په همدې ارتباط دلته ويل شوي: الله تعالی د خپل رسول حقيقي خوب رښتينی کړ، مطمئن اوسئ چې که خدای غوښتل حتماً به مسجد الحرام ته په داسي حال کې خوندي او په امن سره ننوځئ چې له عمرې وروسته به خپل وېښتان يا خريئ يا لنډوئ، هيڅ وېره به هم نه لرئ، دا په حقيقت کې ستره وړاندوينه وه چې ترسره شوه، دا په داسي حال کې چې مسلمانان د دې تړون له کبله سخت ناراض او خفه ول او ډېرو د دې هيلي ترسره کېدا محال او لږ تر لږه گرانه گڼله، خو د قرآن له وړاندويني سره سم په راتلونکي کال کې مکې ته ننوتل او لنډه موده وروسته مکه د مسلمانانو په لاس فتح شوه.

پوښتنه دا ده چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه بل خوب چې د إسراء سورې په ٦٠ آيت کې راغلی؛ کومه رؤيا ده؟ قرآن وايي: دا رؤيا داسي وه چې د دښمنانو ستر طغيان ئې لا زيات کړ: "فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا"؛

له دې الفاظو معلومېږي چې په دې رؤيا سره نه يوازي کومه معجزه قريشو ته نه ده ښودل شوې او د دوی پوښتنو او اعتراضونو ته کوم قاطع ځواب نه دئ ويل شوی او د کومي معجزې په ښودلو سره هغوی ساکت او له مخالفت لاس اخيستلو ته نه دي اړ کړی شوي؛ بلکې مخالفت او طغيان ئې لا زيات شوی.

که د إسراء سورې لومړی آيت، ٦٠ آيت او ٩٣ آيت يو د بل خوا ته کښېږدو نو د معراج په اړه ډېر څه موږ ته جوت کېږي.

لومړی آيت وايي:

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١ الإسراء

پاکې هغه ذات ته ده چې یوه شپه ئې خپل بنده (رسول الله صلی الله علیه و سلم) له مسجد الحرام تر مسجد الاقصی پورې بېولی؛ تر هغه مسجد الاقصی (لرې جومات) پورې چې مونږ ئې شاو خوا ور برکتې کړې، د دې لپاره چې ځینې خپل آیتونه وروښیو، یقیناً چې هغه ښه لیدونکی اورېدونکی دئ.

د شپې له لورې بېول او په همدې شپې کې هغه ته د آیتونو ښودل؛ ښیي چې دا یو خوب وو؛ دا ځکه چې انسان په ویښه او په تیاره کې هیڅ څه نشي لیدلی؛ دا د انسان نه بدلېدونکی فطرت او جِبِلَت دئ؛ د انسان سترګې له نور پرته څه نشي لیدلی. او د الله تعالی سنن هم نه بدلېدونکي دي، د انسان په ارتباط هم چې الله تعالی کوم سنن وضع کړي دي دا نه بدلېدونکي دي، له دغو سننو یو هم دا دئ چې د لیدلو لپاره رڼا ته ضرورت لري. اما په خوب کې په پټو سترګو لیدل کولی شي؛ خو نه د مخ په سترګو؛ بلکې د زړه په سترګو؛ او قرآن وایي: پیغمبر علیه السلام په دې سفر کې د زړه په سترګو په ربنتیني توګه لیدل کړي: مَا كَذَبَ ٱلۡفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ: زړه چې څه لیدلي دروغ ئې نه دي ویلي.

٦٠ آیت همدا خبره کوي او فرمایي:

وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا ﴿٦٠﴾ الإسراء

او دا رؤیا چې تا ته مو وښوده؛ دغه رؤیا د خلکو لپاره یوازې یوه فتنه او آزموینه وه. او په قرآن کې یاده شوې هغه لعنت شوې ونه؛ چې پرې ویروو ئې؛ نو دغو خبرو (رؤیا او ملعونه شجرې) بل څه نه بلکې د دوی ستر طغیان لا زیات کړ.

لکه چې ګورئ دلته رؤیا په معرفه صیغه راغلې (ٱلرُّءۡيَا: دا رؤیا)؛ او دا ښیي چې تر دې وړاندې د دې رؤیا یادونه شوې؛ که په مخکینیو آیتونو کې غور وکړو نو راته جوتېږي چې په دې سره لومړي آیت ته

اشاره شوې. یعني هغه له مسجد الحرام تر مسجد الاقصی پورې د رسول الله صلی الله علیه و سلم بېول؛ په دې موخه چې خپل آیتونه وروښيي؛ همدا رؤیا وه.

د إسراء او معراج اړوند آیتونو کې قرآن دا هم ویلي چې (مَا كَذَبَ ٱلۡفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ) النجم: ۱۱: زړه چې څه لیدلي دروغ ئې نه دي ویلي؛ یعني په دې ملکوتي سفر کې رسول الله صلی الله علیه و سلم چې څه لیدلي د خپل زړه په سترګو سره ئې لیدلي؛ او تاسو پوهېږئ چې انسان په ویښه په خپلو اصلي دوو سترګو لیدل کوي او په رؤیا کې ئې د خپل زړه په سترګو ګوري؛ نه د خپل مخ په سترګو. په خوب کې سترګې پټې وي؛ هر څه د زړه په سترګو لیدل کېږي؛ له دې معلومېږي چې د معراج سفر روحاني سفر وو نه جسمي سفر.

## د موسی علیه السلام معراج په زمکې کې وو

قرآن په واضح توګه او د موسی علیه السلام د قصې په ترڅ کې مونږ ته لارښوونه کوي چې کله الله تعالی وغواړي کوم بنده خپل حضور ته ومني نو په زمکې کې ئې خپل حضور ته مني؛ همغسې لکه چې موسی علیه السلام ئې د طور په اړخ کې خپلې خوا ته وغوښت؛ په یوې خفي تجلي سره ئې د طور په هغه لوري تلو ته وهڅولو او بیا ئې د شنې ونې له منځ تکلم ورسره وکړ؛ داسې چې موسی علیه السلام ژغ اورېدلی. باید متوجه وو چې الله تعالی د ټولو انسانانو له منځ؛ یوازې له موسی علیه السلام سره د حجاب له شا مخامخ تکلم کړی. په قرآن کې د دې حضور او تکلم یادونه د دې لپاره شوې چې راوښيي: ۱- کله چې الله تعالی وغواړي څوك خپل حضور ته ومني نو لوړ ئې آسمانونو او عرش ته نه بیايي؛ همدلته په زمکې کې خپل پیغام وررسوي. ۲- انسان په خپلو کمزورو سترګو او واړه ظرفیت سره د الله تعالی د لیدلو توان او طاقت نه لري. ۳- له موسی علیه السلام سره ئې همدلته داسې تکلم کړی چې د خپل رب غږ ئې اورېدو؛ خو قرآن وايي چې الله تعالی له ده پرته له

بل هيچا سره داسي تکلم نه دئ کړی؛ نو د معراج حقيقت او څرنګوالی همداسي دئ؛ عملي بېلګه او مثال ئې همدا دئ؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم معراج هم بايد د دې عملي معيار په رڼا کې وڅېړو.

وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِىٓ أَنظُرْ إِلَيْكَ ۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِى وَلَٰكِنِ ٱنظُرْ إِلَى ٱلْجَبَلِ فَإِنِ ٱسْتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوْفَ تَرَىٰنِى ۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًا ۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبْحَٰنَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٤٣﴾ الاعراف

او کله چي موسى زموږ ميقات ته راغی او رب ئې ورسره خبري وکړې، وئې ويل: اې زما ربه! ما ته (ځان) راوښيه چي درته وګورم؛ وئې فرمايل: هيڅکله مي ليدی نه شې؛ خو دې غره ته وګوره؛ که په خپل ځای ثابت پاته شو نو ته به مي هم حتماً وګورې؛ خو کله چي د ده رب د غره په لوري تجلي وکړه؛ ټوټې ټوټې شو او موسى بې سده پرېووت. کله چي راپه سد شو وئې ويل: پاکي تا ته ده؛ تا ته مي توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی يم (د دې خبري چي هيڅوك الله تعالى په خپلو سترګو نه شي ليدی).

دلته څو ډېري اساسي او مهمي خبري زموږ توجه جلبوي:

• الله تعالى په زمکي کي او د طور غره په يوه اړخ کي موسى عليه السلام خپل حضور ته منلی او له هغه سره ئې تکلم او خبري کړې؛ موږ د دې تکلم او خبرو په کيفيت او څرنګوالي نه پوهېږو؛ دومره ويلی شو چي موسى عليه السلام دا خبري اورېدلې دي او پرې پوه شوی.

• خبري په داسي حالت کي شوې چي موسى عليه السلام خپل رب نه ليدو؛ د ليدو تمنی ئې کړې او الله تعالى ورته فرمايلي چي زما د ليدو توان او استعداد نه لرې؛ ستا په څېر يو انسان خو پرېږده ستر غر هم د الله تعالى د تجلي په وړاندي مقاومت نشي کولی؛ که دا غر زما د تجلي په وړاندي تم شو نو ته مي هم ليدی شې.

- کله چې الله تعالی د غره په لوري تجلي کړې غر ټوټې ټوټې شوی او موسی علیه السلام بې سده شوی.
- کله چې راپه سد شو وئې ویل: پاکي تا لره ده؛ تا ته مي توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم؛ یعنی له ما غلطي وشوه، ته تر دې ډېر لوړ یې چې انسان دي په خپلو کمزورو سترګو ولیدی شي، تا ته مي توبه ده، زه لومړنی کس یم چې دې نتیجې ته رسېدلی چې هیڅوك الله تعالی په خپلو سترګو نه شي لیدی.
- تر دې وړاندي ئې همدلته یوه رڼا تر سترګو شوې وه؛ ګمان ئې دا وو چې دلته به شپنو اور بل کړی وي؛ د کومي سکروټي تر لاسه کولو لپاره دې ځای ته راغلی؛ ناځاپي ئې له یوې ونې د الله تعالی خطاب اورېدلی؛ پرته له دې چې الله تعالی یا د هغه نور او تجلي وګوري.
- له دې آیت په ځرګنده توګه معلومېږي چې د الله تعالی حضور ته رسېدل دغسې وي؛ په زمکې کې د الله تعالی حضور احساسوي؛ آسمانونو ته لوړ نه بېول کېږي؛ انسان زمکنی مخلوق دئ نه آسماني؛ هر څه به ئې د همدغي زمکې پر سر وي؛ پیدایښت ئې، ژوند او مرګ ئې، بیا ژوندون ئې، جنت او دوزخ ئې او معراج ئې. دا د معراج لپاره واضح او عملي بېلګه او مثال دئ؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم معراج همداسي وو؛ روایات وایي: له مسجد الحرام یا له خپل کور او یا د ام هاني رضي الله عنها له کور او په داسي حال کې د معراج په سفر تللی چې ویده وو؛ او په داسي حال کې ئې سفر پای ته رسېدلی چې له خوب راویش شوی؛ یعني چې دا د رؤیا سفر وو نه د ویښې.

د قرآن دا وینا او هغه هم د موسی علیه السلام د قصې په ترڅ کې د یهودانو او د بایبل د هغو پلویانو په خوله سخت سوك دئ چې د بایبل دا غلطه خبره مني چې د دوی ګڼ شمېر انبیاوو الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی او ډوډۍ ئې ورسره خوړلې!!

## د (شهود) او (حضور) غلطه ادعاء

دا آيت د ټولو هغو ټګمارانو ادعاء هم ردوي چې د (شهود) او (حضور) په نامه د الله تعالی د ليدو خبره کوي. که د موسی عليه السلام په څېر اولوالعزم پيغمبر نشي کولی الله تعالی وګوري بل څوك به ئې څنګه وليدی شي، بخاري روايت کوي چې عائشي رضی الله عنها د محمد عليه السلام په اړه وويل:

مَنْ حَدَّثَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا صلى الله عليه و سلم رَأَى رَبَّهُ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ (لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ) (وَ مَا كانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلا وحياً أَوْ مِن وَرَاء حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسولاً فَيُوحِىَ بِإِذْنِهِ مَا يَشاءُ) وَمَنْ حَدَّثَكَ أَنَّهُ يَعْلَمُ الْغَيْبَ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ لَا يَعْلَمُ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ. بخارى

که چا درته وويل چې محمد صلی الله عليه و سلم خپل رب ليدلی دئ نو پوه شه چې دا شخص دروغ وايي؛ ځکه الله تعالی فرمايي: (سترګی ئې نشي ليدلی)، (او هيڅ انسان ته نه ښايي چې الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي سره، يا د حجاب له شا او يا کومه فرشته ولېږي نو هغه د الله په حکم هغه څه ورته وحي کړي چې غوښتي ئې وي) او که چا درته وويل چې هغه (محمد عليه السلام) علم غيب لري، نو دا هم دروغ وايي ځکه الله تعالی فرمايي: له الله پرته هيڅوك علم غيب نه لري.

موسی عليه السلام لومړی او وروستی شخص دئ چې الله تعالی ورسره تکلم کړی او دا ئې په خپلو سترګو ليدلي چې نه غر او نه انسان د الله تعالی د تجلي په وړاندي مقاومت کولی شي. قرآن فرمايي:

قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّى ٱصۡطَفَيۡتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِى وَبِكَلَٰمِى فَخُذۡ مَآ ءَاتَيۡتُكَ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ الاعراف

وئې فرمايل: اې موسی! ما په خپلو رسالتونو او په خپل کلام سره تا ته پر خلکو غوره والی درکړ، نو څه چې مې درکړل وائې خله او له شکر کوونکو اوسه.

دلته څو خبري په پام کې ولرئ:

الله تعالی خپل پیغمبر موسی علیه السلام هغو سترو پیرزوینو ته متوجه کوي چې د ده په برخه شوې وې: رسالت ئې ورپه برخه کړی وو او د ټولو انسانانو له منځه ئې یوازې له ده سره په استثنائي او ځانګړې توګه تکلم کړی وو او ده ته ئې په لوحو کې لیکلې هدایات ورکړي وو.

دې دلائلو ته په پام سره باید د معراج په اړه ستا دریځ دا وي: که چا درته وویل چې محمد علیه السلام په ویښه او جسماً د معراج په سفر تللی؛ ورته ووایه: الله تعالی په خپل قرآن کې او د موسی علیه السلام په قصه کې موږ ته معراج تعریف کړی؛ د الله تعالی د تعریف په وړاندې بل تعبیر نه منم.

## قریشو ولې له رسول الله غوښتل چې آسمان ته وخېژي؟

د الإسراء سورې په ۹۳ آیت کې راغلي:

... أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِنْ زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَى فِي السَّمَاءِ وَلَنْ نُؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَابًا نَقْرَؤُهُ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنْتُ إِلا بَشَرًا رَسُولا﴿٩٣﴾ الإسراء

... او یا د سرو سپینو زرو کور دې وي او یا آسمان ته وخېژې او ختل دې هم تر هغه نه منو چې کوم داسې لیکلی کتاب راته راوړې چې موږ ئې لوستی شو. ورته ووایه: سبحان الله! مګر زه له یوه لېږل شوي انسان پرته بل څه یم؟!

دا آیت وایي: قریش له رسول الله صلی الله علیه و سلم دوه نوري

معجزې غوښتې: ١- په معجزې سره ځان ته د سرو سپينو زرو کور جوړ کړه؛ ٢- آسمان ته د ختلو معجزه وښيه؛ يوازې ختل هم کافي نه ګڼي بلکې ترې غواړي چې له ځان سره داسې ليکلی کتاب راوړي چې دوی ئې لوستی شي!!

رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چې د دوی د دغو غوښتنو په ځواب کې ووايه: سبحان الله! مګر زه له يوه لېږل شوي انسان پرته بل څه يم؟! يعني زه يو بشر يم؛ څنګه له بشر دا غواړئ چې آسمان ته وخېژي؟ يعني ستاسو غوښتنه ناسمه او نامعقوله ده؛ د انسان د فطرت خلاف ده؛ زه انسان يم، انسانانو ته د رسول په توګه لېږل شوی يم، فرشته نه يم؛ فرشتې په آسمان کې اوسي، که په زمکې کې فرشتې وی نو الله تعالی به فرشته د رسول په توګه لېږلې وه؛ لکه چې قرآن فرمايي:

قُلْ لَوْ كَانَ فِي الأَرْضِ مَلائِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِنَ السَّمَاءِ مَلَكًا رَسُولا ﴿٩٥﴾ الإسراء

ورته ووايه: که په زمکې کې فرشتې وی او په ډاډ او اطمئنان سره په زمکې کې ګرځېدی نو حتماً به مو له آسمان فرشته د رسول په توګه پرې رالېږلې وه؛ يعني چې زه زمکنی پيغمبر يم؛ نه د فرشتو په څېر آسماني مخلوق؛ آسمان ته د تګ دا توقع له ما نه؛ بلکې له ملائکو وکړئ.

د إسراء سورې دا درې آيتونه په بشپړ وضاحت سره ښيي چې د معراج سفر يوه رؤيا وه نه بل څه؛ د رواياتو په بحث کې به وګورئ چې اکثر روايات همدا وايي. که داسې نه وی نو قريشو به ولې آسمان ته د ختلو غوښتنه ترې کوله؛ او رسول الله صلی الله عليه و سلم به ولې دوی ته دا ځواب ورکولو چې زه انسان يم له ما داسې غوښتنې مه کوئ؟! ورته ويلې به وو؛ آبله ورځ ختلی وم؛ هماغه کافي دئ؛ تاسو ته مې د سفر څو نښې هم وړاندې او ثابتې کړې!!

د مخکينې آيت متصل په ٩٤ آيت کې داسې راغلي:

وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٤﴾ الإسراء

او خلك له دې پرته بل څه له ایمان راوړو منع نه کړل مګر دا چې وئې ویل: آیا الله یو بشر د رسول په توګه مبعوث کړی!!

یعني د نه ایمان وجه ئې دا وه چې پیغمبر ئې د نورو انسانانو په څېر یو انسان موندلی؛ نه ئې خارق العاده جوړښت وو او نه ئې خارق العاده کارونه کولی شو. یعني چې رسول الله صلی الله علیه و سلم دوی ته د مخکینیو پیغمبرانو په څېر معجزې نه وې ښودلې؛ نو ځکه ئې د پیغمبر په توګه نه منلو.

او د سورې په ۵۹ آیت کې فرمایي:

وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرۡسِلَ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلۡأَوَّلُونَۚ ... ﴿٥٩﴾ الإسراء

او موږ د آیتونو له لېږلو (معجزو له ښودلو) له دې پرته بل څه نه یو منع کړي؛ چې مخکینیو تکذیب کړل.

یعني د معراج سفر قریشو ته د معجزو ښودلو لپاره نه وو؛ بلکې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د سترو سترو الهي آیتونو ښودلو لپاره وو. عجیبه ده چې ځیني د دغو حقائقو له درك او هغوی ته له اعتناء یا عاجز دي او یا د خپلو ذهني ستونزو له کبله ئې منل ورته ګران!!

ځینو مفسرینو هڅه کړې چې د إسراء د سورې د رؤیا اړوند آیت لپاره په تکلف سره داسې تعبیر او توجیه پیدا کړي چې خپله ذهني ستونزه پرې حل کړي؛ وایي: دلته له رؤیا په ویښه ښودل مراد دي نه په خوب کې!! او دا له شك پرته یوه ناکامه او ناسمه هڅه ده؛ رؤیا له خوب پرته په بله معنی تعبیرول ستره اشتباه ده؛ قرآن اوه ځله د(رؤیا او رءیا) کلمه راوړې چې په ټولو کې ئې معنی د خوب رؤیا ده. عجیبه ده که څوك د یوه ناسم تصور او انګېرنې لپاره داسې ناسمه هڅه کوي؛

د رؤيا اصلي معنی پرېږدي او د ويښې رؤيا ئې ګڼي. د دوی ستونزه دا ده چې پوهېږي دا رؤيا د إسراء سورې له لومړي آيت سره ژور تړاو لري؛ او د رسول الله صلی الله علیه و سلم معراج ته اشاره کوي؛ خو دوی د معراج په اړه دا رأی او هغه روايات منلي چې معراج په ويښه وو؛ اوس نو نه د خپلو انګېرنو له زندان وتلی شي او نه دې ته چمتو دي چې رؤيا په اصلي معنی ونيسي؛ ناچار به د رؤيا لپاره کومه بله توجيه او تعبير وړاندي کوي؛ که څه هم دا توجيه او تعبير ډېر کمزوری وي!

که دا رؤيا د معراج رؤيا ونه ګڼو؛ نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم کومه رؤيا به ئې ګڼو؟ آيا داسې بله رؤيا ښودلی شو چې له کبله ئې د دښمن تبليغات او طغيان زيات شوی وي؟

متأسفانه ځيني داسې هم مومو چې وايي د إسراء سوره کې له يادي رؤيا؛ مراد د حديبيې د سفر اړوند رؤيا ده!! دا په داسې حال کې چې د إسراء سوره په مکه کې او د بعثت د يولسم کال پای يا د دولسم کال پيل کې نازله شوې او د حديبيې پېښه له دې نږدې اته کاله وروسته (په شپږم هجري کال) وه او اړوند خوب ئې د حديبيې له پېښې لږ د مخه ليدل شوی؛ هغه خوب ته د الفتح په سورې کې اشاره شوې. په إسراء کې ياد شوی خوب د معراج اړوند خوب دئ؛ نه بل څه.

## روايات د معراج په اړه څه وايي؟

راشئ وګورو چې د معراج په اړه په رواياتو کې څه راغلي؟ د ټولو هغو رواياتو چې د معراج په اړه راغلي او د احاديثو کتابونو کې ئې مومو؛ تر نوي سلنه زياتو کې ئې دا الفاظ مومو:

١- بينا أنا نائمٌ في الحَطِيْمِ: په داسې حال کې چې زه په حطيم کې ويده وم؛ وهْو نائمٌ في المسْجدِ الحرامِ: او دی په مسجد الحرام کې ويده وو؛ بَيْنَا أَنَا عِنْدَ البَيْتِ بَيْنَ النَّائِمِ، وَاليَقْظَانِ او دې ته ورته الفاظ.

٢- فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ وَكَذَلِكَ الْأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلَا تَنَامُ قُلُوبُهُمْ: په داسې حال کې چې زړه

ئې لیدل کول او د رسول الله صلی الله علیه و سلم سترګې ویدې وې؛ او زړه ئې ویده نه وو؛ او انبیاء همداسي وي چي سترګي ئې ویدې وي خو زړونه ئې نه وېدېږي.

۳- یا د روایت په پای کي داسي راغلي: واسْتَيْقَظَ وَهْوَ فِي المسجدِ الحرامِ: او راویښ شو په داسي حال کي چي په مسجد الحرام کي وو.

نوي سلنه روایات همداسي دي؛ او که هغه روایات هم پرې علاوه کړو چي یوازي د خوب د پېښي تعبیر تري کولی شو نه بل څه؛ لکه دا چي ویل شوي:

فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِي، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ، مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهَا فِي صَدْرِي، ثُمَّ أَطْبَقَهُ:

زما د کور سقف پرانیستل شو په داسي حال کي چي زه په مکه کي وم، جبرئیل نازل شو نو زما سینه ئې پرانیستله، بیا ئې د زمزم په اوبو ومینځله، بیا ئې د سرو زرو لوښی (طشت) راوړ چي له حکمت او ایمان ډك وو؛ او زما په سینه کي ئې تش کړ، بیا ئې بنده کړه.

مګر کېدی شي دا له خوب پرته په بل څه تعبیر کړو؟ نو په دې صورت کي تر نوي سلنه زیات روایتونه داسي کېږي چي د معراج سفر یوه رؤیا ګڼي.

تاسو چي نن د معراج اړوند روایاتو په اړه دا خبره اورئ چي تر نوي سلنه زیاتو کي رسول الله صلی الله علیه و سلم د خوب حالت کي د معراج سفر پیل کړی او پای ته رسېدلی؛ نو یقیناً چي حتماً به حیران شوي یئ؛ ما هم چي د تحقیق په دوران کي روایات داسي ومونډل نو حیران شوم چي له دې ټولو روایاتو سره سره؛ څوك څنګه جرأت او جسارت کوي چي د معراج سفر له رؤیا او روحاني سفر پرته بل ډول او داسي تعبیر کړي چي هم له دې ټولو روایاتو سره خلاف وي او هم د قرآن له څرګندو

آیتونو سره؟!!!

د معراج د روایاتو راویان: ابوذر، انس چې ده هم له ابوذر او ابی بن کعب اورېدلي، ابْنَ عَبَّاسٍ، أَبُو حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ، صعصعه او ام هاني رضي الله عنهم دي. دا پېښه په مکه کې واقع شوې ده، روایت به ئې هم هغه چا کړی وي چې له مکې مدیني ته تللي دي.

دلته هغه روایات ستاسو مخې ته ږدم چې د معراج په اړه راغلي او له مخې ئې قضاوت کولی شئ چې د روایاتو څو سلنه وایي: د معراج سفر یوه رؤیا وه؟ د دې روایاتو ځیني هغه برخې مې نښاني کړې او ترې لاندې مې کرښه کاږلې؛ چې یا ئې همدا خبره کړې چې د معراج سفر معنوي او د رؤیا سفر وو؛ په مسجد الحرام کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له خوب پیل شوی؛ په خوب کې ئې دوام کړی او په خوب کې پای ته رسېدلی؛ د رؤیا په پای کې ورته ویل شوي: کوز شه؛ په همدې سره راویښ شوی او ځان ئې د مسجد الحرام په همغه ځای کې موندلی چې ویده شوی وو؛ نوي سلنه روایات همداسي دي او همدا خبره کوي؛ د نورو روایاتو هغه ځایونه مې هم په نښه کړې چې د دغو روایاتو خلاف ئې ادعاء کړې او د مسجد الحرام پر ځای ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم کور یا د ام هاني رضي الله عنها کور یاد کړی؛ هغه راویان مې هم په نښه کړي چې د محدثینو له نظره کمزوري او د اعتبار وړ نه دي چې یو ئې (شریك) دئ، که څه هم امام بخاري د معراج اکثر روایات له همدې شریك راوړي، یا په کې راغلي چې لمونځ د معراج په سفر کې فرض شوی؛ په داسي حال کې چې د معراج قضیه د بعثت په ۱۱-۱۲ کال کې وه او لمونځ تر دې ډېر وړاندي او د بعثت په لومړیو کې فرض شوی او یادونه ئې نژدې لسو هغو سورتونو کې راغلې چې د الاسراء تر سورې وړاندي نازلې شوې؛ یا په کې ویل شوي چې معراج تر بعثت وړاندي وو چې قطعاً غلطه خبره ده، یا په کې ویل شوي چې ابوبکر رضي الله عنه د معراج له قضیې وروسته او هغه مهال ایمان راوړی چې

رسول الله صلی الله علیه و سلم د ده د تجارتي قافلې په اړه ویلي: د معراج له سفر راستنېدو په دوران کې مي دغه قافله په فلان ځای کې ولیدله او د قافلې د اوبو له لوښي مي اوبه وڅښلې؛ او ګواکې همداسې شوي او ابوبکر رضي الله عنه ته د ده صداقت معلوم شوی نو ځکه ئې ایمان راوړی؛ دا له شك پرته غلطي خبري دي او حقیقت دا دئ چې ابوبکر رضي الله عنه لومړی کس دئ چې د معراج تر پېښې ئې ۱۲ کاله وړاندې ایمان راوړی. په ځینو روایاتو کې دا هم ویل شوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې د سفر په پای کې هغه لوړ مقام ته ورسولو چې الله تعالی ته د لیندۍ د دوو قوسونو په اندازه او تر دې هم زیات نژدې شو؛ خو د قرآن د وینا له مخي په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چې دا قرب او نژدې کېدا له جبرئیل علیه السلام سره وه؛ د قرآن اړوند آیتونه دا دي:

ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ۝٨ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ۝٩ فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ أَوْحَىٰ ۝١٠ النجم

بیا نژدې شو نو کوز راغی، نو د دوو لیندیو په واټن وو یا تر دې هم ورنژدې، نو د ده بنده ته ئې هغه څه وحي کړ چې وحي ئې کړ.

په دې آیتونو کې هغې لومړۍ وحي او لیدني ته اشاره شوې جبرئیل علیه السلام له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره لیدلې او د قرآن لومړۍ آیتونه ئې ده ته اورولي؛ تر دې آیتونو وړاندې په پنځم آیت کې ویل شوي: د مضبوط ځواك خاوند ورښودلی، د متانت خاوند، چې برابر شو حال دا چې هغه په لوړ پاس کې وو، بیا نژدې شو نو کوز راغی، نو د دوو لیندیو په واټن وو یا تر دې هم ورنژدې، نو د ده بنده ته ئې هغه څه وحي کړ چې وحي ئې کړ.

دلته څو خبرو ته اشاره شوې: د جبرئیل علیه السلام له لوري د قرآن وحي، په لومړي ځل په خپلې اصلي بڼې کې رسول الله صلی الله علیه و

سلم ته ځان ښودل، هغه هم د آسمان په لوړې غېږ کې، بیا دومره ورنژدې کېدل لکه د دوو لیندیو تر منځ واټن، خو متأسفانه ځېنې تور زړي او د کږې سلیقې خاوندان دا آیتونه تحریفوي او وایي: الله تعالی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ځان ښودلی، ورنژدې شوی، دا پېښه د معراج په سفر پورې تړې او دا مخامخ ملاقات په لامکان کې او د عرش له پاسه ګڼي!!! راشئ وګورو چې دا تحریف څومره کوږ او د قرآن د څرګندو لارښوونو خلاف دئ. لاندې مطالبو ته ځیر شئ:

- د التکویر په سوره کې د النجم د سورې دغه مطالب په دې صیغه راغلي:

إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿١٩﴾ ذِى قُوَّةٍ عِندَ ذِى ٱلْعَرْشِ مَكِينٍ ﴿٢٠﴾ مُّطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴿٢١﴾

بې شکه چې دا (قرآن) د عزتمن استازي وینا ده، د عرش خاوند ته مخور او ځواکمن، هلته منل شوی او امین.

لکه چې ګورئ دلته د وحي حامل ملك په څو صفتونو یاد شوی: کریم، ذي قوة، مکین یعني د عرش خاوند ته مخور او ځواکمن، مطاع، امین او همدا فرشته د النجم د سورې په آیتونو کې په دې صفتونو یاده شوې: شدیدالقوی، ذومره، لکه چې په دې دواړو سورتونو کې دا دوه صفات د وحي حامل فرشتې ته منسوب شوي همدراز د قرآن په هیڅ آیت کې الله تعالی د (شدیدالقوی) او (ذومره) په صفت نه دئ یاد شوی.

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د فرشتې دا نژدې کېدا په هغه حدیث کې هم په څرګنده توګه راغلې چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم د وحي د نزول پیل زموږ مخې ته په دې الفاظو بړدي:

حَتَّى فَجِئَهُ الْحَقُّ وَهْوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ. فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "مَا أَنَا بِقَارِئٍ". قَالَ "فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى

بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ اقْرَأْ. قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ. فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ اقْرَأْ. قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ. فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ (ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ۝١ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِنْ عَلَقٍ۝٢ ٱقْرَأْ وَرَبُّكَ ٱلْأَكْرَمُ۝٣ ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ۝٤)". إِلَى قَوْلِهِ (عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ۝٥). صحیح ابن حبان، مسلم و...

ترهغه چې وحي په داسې حال کې ورته راغله چې د حراء په غار کې وو فرشته ورته راغله ورته وئې ویل: ولوله! رسول الله صلی الله علیه و سلم وویل: (زه خو لوستونکی نه یم)، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: فرشتې په غېږ کې داسې کلك ونیولم چې وس او زغم مې په پای ته رسېدو شو، هغې پرېښودم او راته وئې ویل: ولوله، ما وویل: (زه لوستونکی نه یم)، رسول الله صلی الله علیه و سلم وایي: هغې فرشتې بیا ونیولم او دومره ئې ټینګ کړم چې څومره مې تحمل کولی شو، بیا ئې پرېښودم او وئې ویل: ولوله، ما وویل: (زه لوستونکی نه یم)، درېیم ځل ئې بیا ونیولم، دومره ئې ټینګ کړم چې زغم مې په پای ته رسېدو شو، بیا ئې خوشی کړم او راته وئې ویل: (اقرأ باسم ربک.........) (ولوله د خپل هغه رب په نامه چې هر څه ئې پیدا کړي دي. انسان ئې له ځوړند توکي پیدا کړی، ولوله ستا رب تر ټولو زیات کریم او د زیات عزت خاوند دئ).

دا حدیث په ډېر صراحت سره د پورتنیو مبارکو آیتونو شرح زموږ په وړاندې ږدي او ښیي چې د فرشتې هغه نژدې کېدا څنګه وه.

ځیني دا مبارك آیتونه غلط تعبیروي او وایي الله تعالی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دومره ورنژدې شوی لکه د دوو لیندیو په واټن!! دوی نه یوازې د قرآن څرګنده وینا تحریفوي او د دې آیتونو هغه تفسیر

ردوي چې قرآن په خپله وړاندي کړی بلکې هغه څه وايي چې د توحيد له عقيدې سره تصادم کوي.

دوی ادعاء کوي چې ګواکې دلته د رسول الله صلی الله علیه و سلم معراج ته او د معراج په سفر کې له الله تعالی سره ملاقات ته اشاره شوې!!! حال دا چې دا سوره د معراج له روحاني سفر نژدې اته کاله وړاندي نازله شوې، ډېر ناپوه او په غرض او مرض اخته انسان به دا جسارت کوي چې دا مبارك آيتونه د معراج په سفر پوري وتړي!! هيله ده د دې موضوع مزيد تفصيلات د النجم سورې په تفسير کې وګورئ.

د معراج اړوند روايات دا دي:

عن أنس بن مالكٍ، أَنَّ مالك بن صَعْصَعَة حَدَّثهمْ أنّ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَهُمْ عَن ليلةِ الإسراء قال: "بينا أنا نائمٌ فى الحَطِيْمِ وَرُبما قال فى الحِجْرِ إذْ أتانى آتٍ فَجَعَلَ يقولُ: أحد الثلاثة" قالَ: "فأتانى فَشَقَّ وَرُبما قال: فَقَدَّ ما بين هذه إلى هذه". ابو عوانه

له انس بن مالك روايت دئ چې مالك بن صعصعه دوی ته ويل: رسول الله صلی الله علیه و سلم دوی ته د إسراء د شپې په اړه وفرمايل: کله چې زه په حطيم کې ويده وم؛ يا ښايي وئې ويل: په الحجر کې؛ چې يو راتلونکی راته راغی او لګيا شو ويل ئې: يو له دغو دريو؛ وئې فرمايل: نو راته راغی او زما سينه ئې شق يا قد (څيري) کړه؛ له دې ځای تر دې ځای.

عن أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ: كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي فِي الْجَنَّةِ، فَإِذَا أَنَا بِامْرَأَةٍ تَتَوَضَّأُ إِلَى جَنِبِ قَصْرٍ، فَقُلْتُ: لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ؟ فَقَالَتْ: لِعُمَرَ، فَذَكَرْتُ غَيْرَتَهُ فَوَلَّيْتُ مُدْبِرًا" مسند احمد

له ابو هريره روايت دئ چي وئې ويل: موږ د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته ناست وو چي وئې فرمايل: په داسي حال کې چي زه ويده وم؛ ځان مي په جنت کې ولېدو؛ ناڅاپه د يوه قصر خوا ته له يوې مېرمني سره مخامخ شوم چي اودس ئې کولو؛ پوښتنه مي وکړه چي دا د چا قصر دئ؛ مېرمني راته وويل: د عمر؛ نو د ده غيرت راپه ياد شو او په شا شوم او مخ مي واړولو.

دا دواړه روايات يا د معراج د سفر يوه برخه زموږ مخي ته ږدي او يا ښيي چي د معراج سفر همداسي يوه رؤيا وه.

٣٥٧٠ - عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ، سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يُحَدِّثُنَا عَنْ "لَيْلَةِ أُسْرِىَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَسْجِدِ الكَعْبَةِ: جَاءَهُ ثَلاَثَةُ نَفَرٍ، قَبْلَ أَنْ يُوحَى إِلَيْهِ، وَهُوَ نَائِمٌ فِي مَسْجِدِ الحَرَامِ، فَقَالَ أَوَّلُهُمْ: أَيُّهُمْ هُوَ؟ فَقَالَ أَوْسَطُهُمْ: هُوَ خَيْرُهُمْ، وَقَالَ آخِرُهُمْ: خُذُوا خَيْرَهُمْ. فَكَانَتْ تِلْكَ، فَلَمْ يَرَهُمْ حَتَّى جَاءُوا لَيْلَةً أُخْرَى فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ، وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلاَ يَنَامُ قَلْبُهُ، وَكَذَلِكَ الأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلاَ تَنَامُ قُلُوبُهُمْ، فَتَوَلَّاهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ". رواه البخارى

له شريك بن عبد الله بن ابي نَمِر روايت دئ چي وايي: له انس بن مالك مي واورېدل چي موږ ته ئې ويل: هغه شپه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د کعبې له مسجد د شپې له لوري بېول شو؛ درې تنه ورته راغلل؛ تر هغه وړاندي چي ده ته وحی شوې وي؛ په داسي حال کې چي دی په مسجد الحرام کې ويده وو، نو لومړي تن ئې وويل: دی کوم يو دئ؟ منځني په ځواب کې وويل: دی ئې تر ټولو غوره دئ؛ وروستي ئې وويل: همدا غوره ئې درواخلئ؛ نو دا شپه همداسي وه؛ نو تر هغه ئې

ونه ليدل چې بله شپه ورته راغلل؛ په داسې حال کې چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم سترګې ويدې وې او زړه ئې ويده نه وو؛ او انبياء همداسې وي چې سترګې ئې ويدې وي خو زړونه ئې نه ويدېږي؛ نو جبرئيل له ځان سره کړ او بيا ئې د آسمان په لوري لوړ کړ.

د دې روايت په اړه دا خبرې بايد په پام کې ولرو:

- د روايت دا برخه (وهْو نائِمٌ فِي المسْجدِ الحرامِ: په داسې حال کې چې دی په مسجد الحرام کې ويده وو) په ځينو رواياتو کې نه ده راغلې؛ په داسې حال کې چې هم ئې لومړي او دوهم راويان سره ورته دي او هم ئې نور متن؛ او د دې معنى دا ده چې دا برخه له وروستيو راويانو هېره شوې.
- د (قَبْلَ أَنْ يُوحَى إِلَيْهِ: تر دې وړاندې چې ورته وحي وشي)؛ په اړه علماء او محققين جدي ملاحظه لري او د شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللهِ نااشنا خبره ئې ګڼي. (قبل أن يوحى إليه) هذه الجملة مما أنكره العلماء على شريك، وخَطَّؤُوه فيها، منهم الخطابي، وابن حزم، والقاضي عِياض، والنووي.)؛ ځکه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د معراج تر شپې نژدې دولس کاله وړاندې د وحی لړۍ پيل شوې وه او ګڼ شمېر سورتونه په دې موده کې نازل شوي وو!! په داسې حال کې چې امام بخاري د ده همدا روايت له همدې ناسمي وينا سره د صحيح رواياتو په لړ کې نيولی او په مکرره توګه ئې راوړی؛ دا او ورپسې روايتونه د ده دي!!

د شريك په اړه د علماءو او محدثينو رأيه دا ده: من صغار التابعين؛ (د تابعينو د وړو له ډلې دئ) رتبته عند ابن حجر: صدوق يخطىء كثيرا، تغير حفظه منذ ولى القضاء بالكوفة؛ (رښتينی دئ خو ډېر خطا کېږي، حفظ ئې له هغه وروسته کمزوری شو چې د کوفې قاضي شو)، قال النسائى: ليس بالقوى وقال غيره سىء الحفظ (نسائي وايي: قوي او مضبوط نه دئ او نورو ويلي: حفظ ئې کمزوری دئ؛ تَوقَّفَ بَعْضُ الأَئِمَّةِ عَنِ الاحْتِجَاجِ بِمَفَارِيْدِه: ځينو ائمه وو د ده د هغو رواياتو په اړه توقف

کړی چې په کې يوازې دئ.

د (سترگې ئې ویدې وې) معنی له دې پرته بل څه نه ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ویده وو؛ خوب د سترگو له ویدېدو پیل کېږي؛ نور غړي ورو ورو او یو په بل پسې ویده کېږي؛ لاسونه او پښې له حرکت ولوېږي؛ غوږونه په پیل کې نیمه ویښ وي، د غږ په وړاندې عکس العمل ښيي او انسان راویښوي خو وروسته او په ژور خوب کې په بشپړه توگه ویده شي، زړه تل ویښ وي او په ټول ژوند کې یوه شېبه هم نه ویدېږي؛ د دماغ هغه برخې ویدې شي او خپل کار متوقف کړي چې سترگې، غوږونه، لاسونه او پښې اداره کوي؛ نورې برخې ئې تل ویښې او فعالې وي. د خوب دا حالت په ټولو انسانانو کې یو ډول دئ؛ توپیر ئې یوازې د خوب عمق او ژوروالي کې وي.

وروستی روایت دوه برخې لري؛ لومړی برخه ئې دا ده:

٢٧٤٦ - عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يُحَدِّثُنَا عَنْ لَيْلَةِ أُسْرِىَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَسْجِدٍ حَوْلَ الْكَعْبَةِ، إِذْ جَاءَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ قَبْلَ أَنْ يُوحَى إِلَيْهِ وَهُوَ نَائِمٌ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ أَوَّلُهُمْ: أَيُّهُمْ هُوَ؟، قَالَ أَوْسَطُهُمْ: هُوَ خَيْرُهُمْ، فَقَالَ آخِرُهُمْ: خُذُوا خَيْرَهُمْ، فَكَانَتْ تِلْكَ فَلَمْ يَرَهُمْ حَتَّى جَاءُوا لَيْلَةً أُخْرَى فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ، وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ، وَكَذَلِكَ الْأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلَا تَنَامُ قُلُوبُهُمْ، فَلَمْ يُكَلِّمُوهُ حَتَّى احْتَمَلُوهُ فَوَضَعُوهُ عِنْدَ بِئْرِ زَمْزَمَ، فَتَوَلَّاهُ مِنْهُمْ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَشَقَّ جِبْرِيلُ مَا بَيْنَ نَحْرِهِ إِلَى لَبَّتِهِ حَتَّى فَرَّجَ عَنْ صَدْرِهِ وَجَوْفِهِ فَغَسَلَهُ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ حَتَّى أَنْقَى جَوْفَهُ، ثُمَّ أَتَى بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ فِيهِ نُورٌ مِنْ

ذَهَبٍ مَحْشُوًّا إِيمَانًا وَحِكْمَةً، فَحَشَا بِهِ صَدْرَهُ وَجَوْفَهُ وَعَادَ يَدَهُ ثُمَّ أَطْبَقَهُ.

دلته څو برخي غور ایجابوي:

- وايي: درې فرشتې ورته راغلې؛ تر هغه وړاندي چي ده ته وحي وشي؛ له دې داسي معلومېږي چي دا فرشتې تر بعثت وړاندي ورته راغلې دي!! په داسي حال کې چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم معراج د بعثت د یولسم کال په پای یا د دولسم کال په پیل کې وو. په راویانو کې حتماً یوه اشتباه کړې.
- د فرشتو د دغه درې کسیز ټولي له ویناوو داسي معلومېږي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم نه پېژني؛ لومړی ئې وايي: په دغو کسانو کې چي دلته پراته دي کوم یو ئې زموږ مطلوب شخص دئ؟ منځنی ئې وايي: هغه تر ټولو غوره دئ. وروستی ئې وايي: تر ټولو غوره ئې درواخلئ. له دې معلومېږي چي راوي نه دئ توانېدلی مطلب په روښانه توګه بیان کړي.
- وروسته داسي راغلي: دا فرشتې ئې بیا ونه لیدلې تر هغه چي بله شپه په داسي حال کې ورته راغلې چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم زړه لیدل او سترګي ئې ویدې وې؛ خو زړه ئې ویده نه وو؛ او انبیاء همداسي وي؛ سترګي ئې ویدې وي خو زړه ئې نه ویدېږي. دا الفاظ ښيي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ویده وو؛ د هر چا خوب همداسي وي؛ خوب د سترګو له وېدېدو پیل کېږي؛ نور غړي ورو ورو او له سترګو وروسته یو په بل پسي ویده شي؛ زړه په ټول ژوندون کې یوه شېبه هم نه ویدېږي؛ د مغز هغه برخه خپل کار متوقف کړي چي سترګي، لاسونه، پښې، غوږونه اداره کوي؛ اما نوري برخي ئې په مسلسله توګه او له توقف پرته فعالي وي، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

«يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلاَثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ مَكَانَهَا عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ. فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللَّهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقَدُهُ كُلُّهَا فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ وَإِلاَّ أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلاَنَ».

بخاری: ٣٢٦٩

له ابو هريره رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: (كله چي څوك ويده شي شيطان ئې د سر په شاتنۍ برخي كې درې غوټي غوټه كړي، هره غوټه په خپل خپل ځای ووهي، له هري غوټي سره وايي: شپه دې اوږده، ويده شه، كه دا سړی راويښ شي، د الله تعالی ذكر وكړي، نو يوه غوټه پرانيستل شي او كه اودس وكړي بله غوټه پرانيستل شي او چي لمونځ وكړي نو ټولي غوټي پرانيستل شي او سحر تازه او پاك زړی راپاڅېږي؛ او كه نه نو لټ، پرېشانه او بد حاله به راپاڅېږي).

- كه څه هم دا روايت غريب دئ او په صحابه وو كې يوازي يو راوي لري خو دا مطلب په نورو رواياتو كې هم له ځينو توپيرونو سره راغلی، نژدې ټولو مهمو كتابونو راوړی، د متن له پلوه داسي دئ چي يوې ژوري علمي موضوع ته اشاره كوي، داسي موضوع چي يوازي يو پيغمبر ئې ويلی شي، نن او له ډېرو علمي تحقيقاتو وروسته معلومه شوې چي د انسان خوب همداسي دئ لكه چي په دې حديث كې ورته اشاره شوې، كه د انسان خوب ته ځير شو نو گورو چي خوب په تدريجي توگه انسان ته راځي او په تدريجي توگه ترې ځي، داسي لكه چي د بدن د هغو برخو سويچونه ئې ورو ورو او يو په بل پسي وهل كېږي چي د انسان په واك كې دي او د ده له حكم او ارادې سره سم عمل كوي، لكه لاسونه، پښې، سترگي، شونډي او ژبه، دا سويچونه د ويدېدو په وخت كې يو په

بل پسې بر وهل کېږي او د ویښېدو په وخت کې لاندي، د خوب پر مهال د انسان دماغ؛ د ده په وینې کې د داسې توکې راپیدا کېدو پرېکړه وکړي چې د خوب باعث کېږي، دا ماده د دماغ هغو برخو ته دروميي چې همدا غړي اداره کوي، لومړی سترګې پټې شي، بیا د لاس او پښو د خوزولو برخه خپل کار متوقف کړي، ورو ورو انسان په ژور خوب ويده شي، ويښېدا ئې هم همداسې تدريجي وي. د رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې حديث کې دغې ژورې علمي موضوع ته اشاره شوې.

• د روايت بله برخه وايي: تر هغه چې پورته ئې کړ او د زمزم څاه خوا ته ئې کښېښود، نو جبرئيل ترې واخيست؛ جبرئيل د ده له ستوني د سينې تر برنۍ برخې پورې څيرې کړه؛ دومره چې سينه او نس ئې تش کړل؛ په خپل لاس ئې د زمزم په اوبو ومينځل، تر هغه چې منځ ئې صفا ستره کړ، بيا ئې د سرو زرو داسې طشت راوړ چې په هغه کې د اوبو داسې لوښی وو چې د سرو زرو وو او له إيمان او حکمت ډك وو؛ نو د ده سينه او د غاړې رګونه ئې پرې ډك کړل، بيا ئې (څيرې ځای) بند کړ.

له دې الفاظو په څرګنده توګه معلومېږي چې دا صحنه په رؤيا کې ليدل شوې؛ الله تعالی د چا په زړه کې حکمت په دې توګه او داسې نه اچوي چې لومړی ئې سينه پرانيزي، زړه او سينه ئې د زمزم په اوبو پرې مينځي؛ بيا د سرو زرو په طشت کې حکمت او إيمان راوړي او د هغه په سينه کې ئې تش کړي. نه ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته حکمت او ايمان داسې ورکړی او نه نورو پيغمبرانو ته، ټولو ته حکمت او ايمان ورکړی شوی؛ خو د وحي له لارې؛ نه د جراحي عملياتو له لارې؛ ځکه چې حکمت او ايمان مجسم شيان نه دي چې په فزيکي شکل راوړل شي او بيا د انسان په سينه کې واچول شي؛ دا فقط د خوب ژبه ده نه د ويښې ژبه؛ دا د انسان خوب او رؤيا ده چې ژبه ئې رمزونه او انځورونه وي او د ويښې ژبه ئې غږ او کلام وي.

په دې خوب سره ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ښودلې چې

ستا سينه مي له ايمان او حکمت ډکه کړې؛ د إيمان او حکمت د ورکړې په ارتباط چې کوم مطلب د قرآن په آيتونو کې او د وحې له لارې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوى وو؛ په خوب کې د تمثيل او انځورني له لارې ښودل شوى؛ د قرآن نور همداسې آيتونه د معراج په دې سفر کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د انځورونو په بڼې کې ښودل شوې؛ او په دې سره الله تعالى پيغمبر عليه السلام ته څو مهم ستر آيتونه ښودلي دي: لومړى ئې دا چې جبرئيل عليه السلام ئې ليدلى؛ دوهم دا چې د هغه سينه ئې له مخکنيو افکارو پاکه کړې او بيا ئې له ايمان، علم او حکمت ډکه کړې؛ دا چې په قرآن کي په وار وار ويل شوي دي چې تا ته مو اې پيغمبره! ايمان درکړى، حکمت مو درکړى، کتاب مو درکړى او علم مو درکړى دئ، همدغه په کي تمثيل شوي دي.

دوهمه برخه ئې دا ده:

ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَضَرَبَ بَابًا مِنْ أَبْوَابِهَا، فَنَادَاهُ أَهْلُ السَّمَاءِ: مَنْ هَذَا؟، فَقَالَ: هَذَا جِبْرِيلُ، فَقَالُوا: مَنْ مَعَكَ؟، قَالَ: مُحَمَّدٌ، قَالُوا: قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟، قَالَ: نَعَمْ، قَالُوا: فَمَرْحَبًا بِهِ وَأَهْلًا، يَسْتَبْشِرُ بِهِ أَهْلُ السَّمَاءِ، لَا يَعْلَمُ أَهْلُ السَّمَاءِ مَا يُرِيدُ اللَّهُ فِي الْأَرْضِ حَتَّى يُعْلِمَهُمْ، فَوَجَدَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا آدَمَ، فَقَالَ لَهُ جِبْرِيلُ: هَذَا أَبُوكَ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَرَدَّ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ وَأَهْلًا يَا بُنَيَّ، فَنِعْمَ الِابْنُ أَنْتَ، فَإِذَا هُوَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا بِنَهَرَيْنِ يَطَّرِدَانِ، فَقَالَ: مَا هَذَا النَّهْرَانِ يَا جِبْرِيلُ؟ فَقَالَ: هَذَا النِّيلُ وَالْفُرَاتُ، ثُمَّ مَضَى فِي السَّمَاءِ فَإِذَا هُوَ بِنَهْرٍ آخَرَ عَلَيْهِ قَصْرٌ مِنْ لُؤْلُؤٍ وَزَبَرْجَدٍ فَذَهَبَ لِيَشَمَّ تُرَابَهُ فَإِذَا هُوَ مِسْكٌ، قَالَ: يَا جِبْرِيلُ مَا هَذَا النَّهَرُ؟، فَقَالَ: هَذَا الْكَوْثَرُ الَّذِى خَبَّأَ لَكَ رَبُّكَ، ثُمَّ عُرِجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ

الثَّانِيَةِ فَقَالَتْ لَهُ الْمَلَائِكَةُ مِثْلَ مَا قَالَتْ لَهُ فِي الْأُولَى: مَنْ هَذَا قال: جِبْرِيلُ، قالوا: ومن معك؟ قال: مُحَمَّدٌ؛ قَالُوا: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟، قَالَ: نعم، قَالُوا: مَرْحَبًا وَأَهْلًا، ثُمَّ عُرِجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ فَقَالُوا لَهُ مِثْلَ مَا قَالَتِ الْأُولَى وَالثَّانِيَةُ، ثُمَّ عُرِجَ بِهِ إِلَى الرَّابِعَةِ فَقَالُوا لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ عُرِجَ بِهِ إِلَى الْخَامِسَةِ فَقَالُوا لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ عُرِجَ بِهِ إِلَى السَّادِسَةِ فَقَالُوا لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ عُرِجَ بِهِ إِلَى السَّابِعَةِ فَقَالُوا لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ، وَكُلُّ سَمَاءٍ فِيهِ أَنْبِيَاءُ قَدْ سَمَّاهُمْ فأوْعيْتُ فَوَعَيْتُ مِنْهُمْ إِدْرِيسَ فِي الثَّانِيَةِ، وَهَارُونَ فِي الرَّابِعَةِ وَآخَرَ فِي الْخَامِسَةِ لَمْ أَحْفَظِ اسْمَهُ، وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّادِسَةِ، وَمُوسَى فِي السَّابِعَةِ بِفَضْلِ كَلَامِهِ اللَّهَ، فَقَالَ مُوسَى: رَبِّ لَمْ أَظُنَّ أَنْ يُرْفَعَ عليَّ أحدٌ. ثُمَّ عَلَا بِمَا لَا يَعْلَمُهُ إِلَّا اللَّهُ حَتَّى جَاءَ سِدْرَةَ الْمُنْتَهَى، وَدَنَا الْجَبَّارُ عَزَّ وَجَلَّ رَبُّ الْعِزَّةِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فَتَدَلَّى حَتَّى كَانَ مِنْهُ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى، فَأَوْحَى إِلَيْهِ مَا شَاءَ اللَّهُ فَأَوْحَى إِلَيْهِ فِيمَا أَوْحَى خَمْسِينَ صَلَاةً عَلَى أُمَّتِهِ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، ثُمَّ هَبَطَ حَتَّى بَلَغَ مُوسَى، فَاحْتَبَسَهُ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ مَاذَا عَهِدَ إِلَيْكَ رَبُّكَ؟، قَالَ: عَهِدَ إِلَيَّ خَمْسِينَ صَلَاةً كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لَا تَسْتَطِيعُ فَارْجِعْ فَلْيُخَفِّفْ عَنْكَ وَعَنْهُمْ، فَالْتَفَتَ إِلَى جِبْرِيلَ كَأَنَّهُ يَسْتَشِيرُهُ فِي ذَلِكَ، فَأَشَارَ إِلَيْهِ أَنْ نَعَمْ إِنْ شِئْتَ، فَعَلَا بِهِ جِبْرِيلُ حَتَّى أَتَى بِهِ الْجَبَّارَ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ مَكَانَهُ، فَقَالَ: يَا رَبِّ، خَفِّفْ عَنَّا، فَإِنَّ أُمَّتِي لَا تَسْتَطِيعُ هَذَا، فَوَضَعَ عَنْهُ عَشْرَ صَلَوَاتٍ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مُوسَى فَاحْتَبَسَهُ، فَلَمْ يَزَلْ يُرْدِدُهُ مُوسَى إِلَى رَبِهِ

حَتَّى صَارَتْ إِلَى خَمْسِ صَلَوَاتٍ، ثُمَّ احْتَبَسَهُ عِنْدَ الْخَامِسَةِ، فَقَالَ: وَاللَّهِ يَا مُحَمَّدُ قَدْ رَاوَدْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى أَدْنَى مِنْ هَذِهِ الْخَمْسِ فَضَيَّعُوهُ وَتَرَكُوهُ فَأُمَّتُكَ أَضْعَفُ أَجْسَادًا وَقُلُوبًا وَأَبْصَارًا وَأَسْمَاعًا، فَارْجِعْ فَلْيُخَفِّفْ عَنْكَ رَبُّكَ، كُلَّ ذَلِكَ يَلْتَفِتُ إِلَى جِبْرِيلَ يُشِيرُ عَلَيْهِ وَلَا يَكْرَهُ ذَلِكَ جِبْرِيلُ، فَرَفَعَهُ عِنْدَ الْخَامِسَةِ، فَقَالَ: يَا رَبِّ إِنَّ أُمَّتِيَ ضِعَافٌ أَجْسَادُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ وَأَسْمَاعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ فَخَفِّفْ عَنَّا "، فَقَالَ الْجَبَّارُ إِنْ كَانَ قَالَ: يَا مُحَمَّدُ، فَقَالَ: لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ،: إِنِّي لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ، هِيَ كَمَا كَتَبْتُ عَلَيْكَ فِي أُمِّ الْكِتَابِ وَلَكَ بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشَرَةٌ أَمْثَالُهَا، وَهِيَ خَمْسُونَ فِي أُمِّ الْكِتَابِ وَهِيَ خَمْسٌ عَلَيْكَ، فَرَجَعَ إِلَى مُوسَى، فَقَالَ: كَيْفَ فَعَلْتَ؟، فَقَالَ: خَفَّفَ عَنَّا، أَعْطَانَا بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرَ أَمْثَالِهَا وَهِيَ خَمْسُونَ. فَقَالَ: قَدْ وَاللَّهِ رَاوَدْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى أَدْنَى مِنْ هَذَا فَتَرَكُوهُ، فَارْجِعْ فَلْيُخَفِّفْ عَنْكَ أَيْضًا، قَالَ: يَا مُوسَى قَدْ وَاللَّهِ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي مِمَّا اخْتَلَفْتُ إِلَيْهِ، قَالَ: فَاهْبِطْ بِاسْمِ اللَّهِ، فَاسْتَيْقَظَ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ". رواه البخارى

د روايت په پای کې گورئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: د الله په مرسته او نامه کوز شه؛ او په همدې سره هغه راويښ شو؛ په داسي حال کې چې په مسجد الحرام کې وو. له دې الفاظو څو خبري په څرگنده توگه معلومېږي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د سفر په پای کې ويل شوي: په خپله کوز شه؛ داسي نه چې فرشتو ته ويل شوي وي چې دی کوز کړئ؛ معنی ئې دا ده چې په خوب کې ځان په سدرة المنتهى کې گوري؛ هملته ورته ويل شوي: کوز شه؛ د دې وينا

له اوربدو سره سم راويښ شوی او ځان ئې په مسجد الحرام کې ليدلی. يعني چې د سفر پيل هم په خوب کې وو او پای ئې هم.

٣٣٠٥ - حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي أَخِي عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يُحَدِّثُنَا عَنْ لَيْلَةِ أُسْرِيَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَسْجِدِ الْكَعْبَةِ جَاءَهُ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ قَبْلَ أَنْ يُوحَى إِلَيْهِ وَهُوَ نَائِمٌ فِي مَسْجِدِ الْحَرَامِ فَقَالَ أَوَّلُهُمْ أَيُّهُمْ هُوَ فَقَالَ أَوْسَطُهُمْ هُوَ خَيْرُهُمْ وَقَالَ آخِرُهُمْ خُذُوا خَيْرَهُمْ فَكَانَتْ تِلْكَ فَلَمْ يَرَهُمْ حَتَّى جَاءُوا لَيْلَةً أُخْرَى فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ وَكَذَلِكَ الْأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلَا تَنَامُ قُلُوبُهُمْ فَتَوَلَّاهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ. رواه البخاری

دلته د ټول روايت يوه برخه راغلې؛ د (قَبْلَ أَنْ يُوحَى إِلَيْهِ) له غلطي فقرې سره.

٣٣٦ - حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِي ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِي ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِي مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ فَلَمَّا فَتَحَ

عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَإِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَسَارِهِ بَكَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قُلْتُ لِجِبْرِيلَ مَنْ هَذَا قَال هَذَا آدَمُ وَهَذِهِ الْأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى حَتَّى عَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ فَقَالَ لَهُ خَازِنِهَا مِثْلَ مَا قَالَ الْأَوَّلُ فَفَتَحَ قَالَ أَنَسٌ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِدْرِيسَ قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا عِيسَى ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ كَانَا يَقُولَانِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوَى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَفَرَضَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلَاةً فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى فَقَالَ مَا فَرَضَ اللَّهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى قُلْتُ وَضَعَ شَطْرَهَا فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَرَاجَعْتُهُ فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهِيَ خَمْسُونَ لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَقُلْتُ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي ثُمَّ انْطَلَقَ بِي حَتَّى انْتَهَى بِي إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لَا أَدْرِي مَا هِيَ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا فِيهَا حَبَايِلُ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ. رواه البخاری

دلته ویل شوي: (زما د کور سقف پرانیستل شو؛ په داسي حال کي چي زه په مکه کي وم؛ نو جبرئیل راکوز شو، زما سینه ئې څیري کړه، بیا ئې د زمزم په اوبو ومینځله، بیا ئې د سرو زرو یو پتنوس راوړ چي له حکمت او ایمان ډك وو؛ نو هغه ئې زما په سینه کي تش کړ؛ بیا ئې هغه بنده کړه)؛ د دې برخي له ټولو الفاظو معلومېږي چي دا هر څه په خوب کي لیدل شوي؛ نه په ویښه کي. عملاً نه د ده د کور سقف پرانستل شوی او نه دی دا شپه په خپل کور کي وو؛ اکثر روایات وایي چي دا شپه د مسجد الحرام دننه او په حطیم کي ویده وو. نه ایمان او حکمت داسي څه دي چي په پتنوس کي راوړل کېږي او د چا په سینه کي تویېږي؛ قرآن وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته تر معراج ډېر وړاندي ایمان، علم او حکمت ورکړی شوی.

٣٤٩ - عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ أَبُو ذَرٍّ

يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَفَرَجَ صَدْرِى، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِى، ثُمَّ أَطْبَقَهُ، ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِى، فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، قَالَ جِبْرِيلُ: لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ، قَالَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ، قَالَ: هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ؟ قَالَ: نَعَمْ مَعِي مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، فَلَمَّا فَتَحَ عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا، فَإِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ، وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ، إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَسَارِهِ بَكَى، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ، قُلْتُ لِجِبْرِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا آدَمُ، وَهَذِهِ الأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ، فَأَهْلُ اليَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الجَنَّةِ، وَالأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ، فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى حَتَّى عَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ، فَقَالَ لِخَازِنِهَا: افْتَحْ، فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الأَوَّلُ: فَفَتَحَ، قَالَ أَنَسٌ: فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ آدَمَ، وَإِدْرِيسَ، وَمُوسَى، وَعِيسَى، وَإِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِمْ، وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ، قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِدْرِيسَ قَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ، فَقُلْتُ مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا إِدْرِيسُ، ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى

فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا مُوسَى، ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا عِيسَى، ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا إِبْرَاهِيمُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، وَأَبَا حَبَّةَ الأَنْصَارِيَّ، كَانَا يَقُولاَنِ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوَى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الأَقْلاَمِ»، قَالَ ابْنُ حَزْمٍ، وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَفَرَضَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلاَةً، فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ، حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى، فَقَالَ: مَا فَرَضَ اللَّهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ؟ قُلْتُ: فَرَضَ خَمْسِينَ صَلاَةً، قَالَ: فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ، فَرَاجَعْتُ، فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى، قُلْتُ: وَضَعَ شَطْرَهَا، فَقَالَ: رَاجِعْ رَبَّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ، فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ، فَرَاجَعْتُهُ، فَقَالَ: هِيَ خَمْسٌ، وَهِيَ خَمْسُونَ، (لاَ يُبَدَّلُ القَوْلُ لَدَيَّ).

(باید متوجه وو چې د قرآن دا آیت (مَا يُبَدَّلُ ٱلْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَآ أَنَا۠ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ﴿٢٩﴾ ق) قطعاً په دې ارتباط نه دئ نازل شوی؛ دا به الله تعالی د قیامت په ورځ او هغه مهال دوزخیانو ته وایي چې یوه ډله به ئې د بلې لپاره له الله تعالی د عذاب غوښتنه کوي او الله تعالی به وفرمایي: زما قول ثابت او پرېکړې تغییر نه منونکې دي؛ او پر خپلو بندګانو ظلم

نه کوم). تفصيل ئې د قرآن پلوشې کې ولولئ.

فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى، فَقَالَ: رَاجِعْ رَبَّكَ، فَقُلْتُ: اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي، ثُمَّ انْطَلَقَ بِي، حَتَّى انْتَهَى بِي إِلَى سِدْرَةِ المُنْتَهَى، وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لاَ أَدْرِي مَا هِيَ؟ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الجَنَّةَ، فَإِذَا فِيهَا حَبَايِلُ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا المِسْكُ". رواه البخاری

١٥٤٠ - عن أنس، عن أبی ذرّ: أنَّ رسول اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: "فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ"، وذكر حديث الإسراء، وسيأتی إن شاء اللَّه، وفيه: وَقَالَ أَنَسٌ: فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِإِدْرِيسَ قَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ، فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ. رواه البخاری

دا بايد په پام کې ولرو چې د پنځو پيغمبرانو مقام او منزلت تر ټولو لوړ دئ: محمد عليه السلام، ابراهيم عليه السلام، موسی عليه السلام، عيسی عليه السلام او نوح عليه السلام. نو رسول الله صلی الله عليه و سلم به پيغمبران داسي ليدلي وي چې همدا څلور به ئې په څلورو برنيو آسمانونو کې يو په بل پسې په دې توګه ليدلي وي: ٧-٦-٥-٤ ؛ يعني ابراهيم عليه السلام په ٧ کې او نوح عليه السلام په ٤ کې؛ په پاته دريو کې به ئې نور پيغمبران د ادريس عليه السلام په شمول ليدلي وي؛ نو هغه روايات دقيق نه دي چې له دې ترتيب سره اړخ نه لګوي او وايي: ابراهيم عليه السلام په شپږم آسمان کې، موسی عليه السلام په اوم آسمان کې او إدريس عليه السلام په څلورم آسمان کې ليدل شوي. دې ته مو بايد پام وي چې د دې ترتيب په ارتباط رواياتو کې د اختلاف رأی شاهد يو.

٣٠٩٤ - حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنْ الزُّهْرِيِّ ح حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ

قَالَ قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ كَانَ أَبُو ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِى ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهَا فِي صَدْرِى ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِى فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ فَلَمَّا جَاءَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ قَالَ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ مَعِي مُحَمَّدٌ قَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ فَافْتَحْ فَلَمَّا عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا إِذَا رَجُلٌ عَنْ يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَنْ يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ فَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا يَا جِبْرِيلُ قَالَ هَذَا آدَمُ وَهَذِهِ الْأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ فَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى ثُمَّ عَرَجَ بِي جِبْرِيلُ حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الْأَوَّلُ فَفَتَحَ قَالَ أَنَسٌ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ إِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ وَلَمْ يُثْبِتْ لِي كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ قَدْ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّادِسَةِ وَقَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِإِدْرِيسَ قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ

مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ عِيسَى ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُ قَالَ وَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَيَّةَ الْأَنْصَارِيَّ كَانَا يَقُولَانِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوًى أَسْمَعُ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَضَ اللَّهُ عَلَيَّ خَمْسِينَ صَلَاةً فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى أَمُرَّ بِمُوسَى فَقَالَ مُوسَى مَا الَّذِي فَرَضَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ فَرَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَرَجَعْتُ فَرَاجَعْتُ رَبِّي فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَرَجَعْتُ فَرَاجَعْتُ رَبِّي فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهِيَ خَمْسُونَ لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَقُلْتُ قَدْ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي ثُمَّ انْطَلَقَ حَتَّى أَتَى بِي السِّدْرَةَ الْمُنْتَهَى فَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لَا أَدْرِي مَا هِيَ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا فِيهَا جَنَابِذُ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ. رواه البخارى

٢٣٧ - و حَدَّثَنِي حَرْمَلَةُ بْنُ يَحْيَى التُّجِيبِيُّ أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَجَ صَدْرِي ثُمَّ غَسَلَهُ مِنْ مَاءِ

زَمْزَمَ ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهَا فِي صَدْرِي ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِى فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ فَلَمَّا جِئْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام لِخَازِنِ السَّمَاءِ الدُّنْيَا افْتَحْ قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِيَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ فَفَتَحَ قَالَ فَلَمَّا عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَإِذَا رَجُلٌ عَنْ يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَنْ يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ قَالَ فَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى قَالَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قَالَ قُلْتُ يَا جِبْرِيلُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا آدَمُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَذِهِ الْأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ فَأَهْلُ الْيَمِينِ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ فَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى قَالَ ثُمَّ عَرَجَ بِي جِبْرِيلُ حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ قَالَ فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ خَازِنُ السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَفَتَحَ فَقَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَاوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَعِيسَى وَمُوسَى وَإِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِينَ وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ قَدْ وَجَدَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَام فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ قَالَ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِدْرِيسَ صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِ قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قَالَ ثُمَّ مَرَّ فَقُلْتُ مَنْ هَذَا فَقَالَ هَذَا إِدْرِيسُ قَالَ ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ

الصَّالِحِ قَالَ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى قَالَ ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَالَ ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَام فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قَالَ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ كَانَا يَقُولَانِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ عَرَجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوًى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَضَ اللَّهُ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى أَمُرَّ بِمُوسَى فَقَالَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام مَاذَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلَى أُمَّتِكَ قَالَ قُلْتُ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ لِي مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فَرَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ قَالَ فَرَاجَعْتُ رَبِّي فَوَضَعَ شَطْرَهَا قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فَأَخْبَرْتُهُ قَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ قَالَ فَرَاجَعْتُ رَبِّي فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهِيَ خَمْسُونَ لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَقُلْتُ قَدْ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي قَالَ ثُمَّ انْطَلَقَ بِي جِبْرِيلُ حَتَّى نَأْتِيَ سِدْرَةَ الْمُنْتَهَى فَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لَا أَدْرِي مَا هِيَ قَالَ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا فِيهَا جَنَابِذُ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ. رواه مسلم

٢١٢٨٨ - حَدَّثَنَا عَبْد اللَّهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ بْنِ مُحَمَّدٍ الْمُسَيَّبِيُّ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ قَالَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ قَالَ

أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام فَفَرَجَ صَدْرِي ثُمَّ غَسَلَهُ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهَا فِي صَدْرِي ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ فَلَمَّا جَاءَ السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَافْتَتَحَ فَقَالَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِي مُحَمَّدٌ قَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ فَافْتَحْ فَلَمَّا عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا إِذَا رَجُلٌ عَنْ يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَنْ يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ تَبَسَّمَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَسَارِهِ بَكَى قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قَالَ قُلْتُ لِجِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَام مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا آدَمُ وَهَذِهِ الْأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ فَأَهْلُ الْيَمِينِ هُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ فَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى قَالَ ثُمَّ عَرَجَ بِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام حَتَّى جَاءَ السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ خَازِنُ السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَفَتَحَ لَهُ قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِمْ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَلَمْ يُثْبِتْ لِي كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاء السَّادِسَةِ قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِدْرِيسَ قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قَالَ فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ قَالَ

ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْأَخِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَالَ ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ يَقُولَانِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ بِمُسْتَوًى أَسْمَعُ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَضَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى أَمُرَّ عَلَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فَقَالَ مَاذَا فَرَضَ رَبُّكَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسِينَ صَلَاةً فَقَالَ لِي مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام رَاجِعْ رَبَّكَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ قَالَ فَرَاجَعْتُ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ قَالَ فَرَاجَعْتُ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهِيَ خَمْسُونَ لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَقُلْتُ قَدْ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَالَ ثُمَّ انْطَلَقَ بِي حَتَّى أَتَى بِي سِدْرَةَ الْمُنْتَهَى قَالَ فَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ مَا أَدْرِي مَا هِيَ قَالَ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا فِيهَا جَنَابِذُ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ هَذَا آخِرُ مُسْنَدِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ؛ حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ الْغِفَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى

عَنْهُ. مسند احمد

يَدْخُلُهَا مِنْ أُمَّتِي، ثُمَّ صَعِدَ بِي إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: مَرْحَبًا بِهِ، فَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا إِبْرَاهِيمُ قَالَ: هَذَا أَبُوكَ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، قَالَ: فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ السَّلاَمَ، قَالَ: مَرْحَبًا بِالِابْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ، ثُمَّ رُفِعَتْ إِلَيَّ سِدْرَةُ المُنْتَهَى، فَإِذَا نَبْقُهَا مِثْلُ قِلاَلِ هَجَرَ، وَإِذَا وَرَقُهَا مِثْلُ آذَانِ الفِيَلَةِ، قَالَ: هَذِهِ سِدْرَةُ المُنْتَهَى، وَإِذَا أَرْبَعَةُ أَنْهَارٍ: نَهْرَانِ بَاطِنَانِ وَنَهْرَانِ ظَاهِرَانِ، فَقُلْتُ: مَا هَذَانِ يَا جِبْرِيلُ؟ قَالَ: أَمَّا البَاطِنَانِ فَنَهْرَانِ فِي الجَنَّةِ، وَأَمَّا الظَّاهِرَانِ فَالنِّيلُ وَالفُرَاتُ، ثُمَّ رُفِعَ لِي البَيْتُ المَعْمُورُ، ثُمَّ أُتِيتُ بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْرٍ، وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ، وَإِنَاءٍ مِنْ عَسَلٍ، فَأَخَذْتُ اللَّبَنَ فَقَالَ: هِيَ الفِطْرَةُ الَّتِي أَنْتَ عَلَيْهَا وَأُمَّتُكَ، ثُمَّ فُرِضَتْ عَلَيَّ الصَّلَوَاتُ خَمْسِينَ صَلاَةً كُلَّ يَوْمٍ، فَرَجَعْتُ فَمَرَرْتُ عَلَى مُوسَى، فَقَالَ: بِمَا أُمِرْتَ؟ قَالَ: أُمِرْتُ بِخَمْسِينَ صَلاَةً كُلَّ يَوْمٍ، قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تَسْتَطِيعُ خَمْسِينَ صَلاَةً كُلَّ يَوْمٍ، وَإِنِّي وَاللَّهِ قَدْ جَرَّبْتُ النَّاسَ قَبْلَكَ، وَعَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ المُعَالَجَةِ، فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ لِأُمَّتِكَ، فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ، فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ، فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ، فَرَجَعْتُ فَأُمِرْتُ بِعَشْرِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ، فَرَجَعْتُ فَقَالَ مِثْلَهُ، فَرَجَعْتُ فَأُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ، فَرَجَعْتُ إِلَى

مُوسَى، فَقَالَ: بِمَ أُمِرْتَ؟ قُلْتُ: أُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ، قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تَسْتَطِيعُ خَمْسَ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ، وَإِنِّي قَدْ جَرَّبْتُ النَّاسَ قَبْلَكَ وَعَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ المُعَالَجَةِ، فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ لِأُمَّتِكَ، قَالَ: سَأَلْتُ رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ، وَلَكِنِّي أَرْضَى وَأُسَلِّمُ، قَالَ: فَلَمَّا جَاوَزْتُ نَادَى مُنَادٍ: أَمْضَيْتُ فَرِيضَتِي، وَخَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِي"

٣٢٠٧ -... عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَيْنَا أَنَا عِنْدَ البَيْتِ بَيْنَ النَّائِمِ، وَاليَقْظَانِ وَذَكَرَ: يَعْنِي رَجُلًا بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ، فَأُتِيتُ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ، مُلِئَ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَشُقَّ مِنَ النَّحْرِ إِلَى مَرَاقِّ البَطْنِ، ثُمَّ غُسِلَ البَطْنُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ مُلِئَ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، وَأُتِيتُ بِدَابَّةٍ أَبْيَضَ، دُونَ البَغْلِ وَفَوْقَ الحِمَارِ: البُرَاقُ، فَانْطَلَقْتُ مَعَ جِبْرِيلَ حَتَّى أَتَيْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ جِبْرِيلُ: قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ، وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى آدَمَ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنَ ابْنٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ، قِيلَ مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: أُرْسِلَ إِلَيْهِ، قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ، وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى عِيسَى، وَيَحْيَى فَقَالاَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الثَّالِثَةَ قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قِيلَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ، وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى يُوسُفَ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ

قَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الرَّابِعَةَ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قِيلَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى إِدْرِيسَ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ الخَامِسَةَ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْنَا عَلَى هَارُونَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَأَتَيْنَا عَلَى السَّمَاءِ السَّادِسَةِ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قِيلَ جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى مُوسَى، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنْ أَخٍ وَنَبِيٍّ، فَلَمَّا جَاوَزْتُ بَكَى، فَقِيلَ: مَا أَبْكَاكَ: قَالَ: يَا رَبِّ هَذَا الغُلاَمُ الَّذِى بُعِثَ بَعْدِى يَدْخُلُ الجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِهِ أَفْضَلُ مِمَّا يَدْخُلُ مِنْ أُمَّتِى، فَأَتَيْنَا السَّمَاءَ السَّابِعَةَ، قِيلَ مَنْ هَذَا؟ قِيلَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ مَنْ مَعَكَ؟ قِيلَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ، مَرْحَبًا بِهِ وَلَنِعْمَ المَجِيءُ جَاءَ، فَأَتَيْتُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ مِنَ ابْنٍ وَنَبِيٍّ، فَرُفِعَ لِى البَيْتُ المَعْمُورُ، فَسَأَلْتُ جِبْرِيلَ، فَقَالَ: هَذَا البَيْتُ المَعْمُورُ يُصَلِّى فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ، إِذَا خَرَجُوا لَمْ يَعُودُوا إِلَيْهِ آخِرَ مَا عَلَيْهِمْ، وَرُفِعَتْ لِى سِدْرَةُ المُنْتَهَى، فَإِذَا نَبِقُهَا كَأَنَّهُ قِلاَلُ هَجَرَ وَوَرَقُهَا، كَأَنَّهُ آذَانُ الفُيُولِ فِى أَصْلِهَا أَرْبَعَةُ أَنْهَارٍ نَهْرَانِ بَاطِنَانِ، وَنَهْرَانِ ظَاهِرَانِ، فَسَأَلْتُ

جِبْرِيلَ، فَقَالَ: أَمَّا البَاطِنَانِ: فَفِى الجَنَّةِ، وَأَمَّا الظَّاهِرَانِ: النِّيلُ وَالفُرَاتُ، ثُمَّ فُرِضَتْ عَلَيَّ خَمْسُونَ صَلاَةً، فَأَقْبَلْتُ حَتَّى جِئْتُ مُوسَى، فَقَالَ: مَا صَنَعْتَ؟ قُلْتُ: فُرِضَتْ عَلَيَّ خَمْسُونَ صَلاَةً، قَالَ: أَنَا أَعْلَمُ بِالنَّاسِ مِنْكَ، عَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ المُعَالَجَةِ، وَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ، فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَسَلْهُ، فَرَجَعْتُ، فَسَأَلْتُهُ، فَجَعَلَهَا أَرْبَعِينَ، ثُمَّ مِثْلَهُ، ثُمَّ ثَلاَثِينَ، ثُمَّ مِثْلَهُ فَجَعَلَ عِشْرِينَ، ثُمَّ مِثْلَهُ فَجَعَلَ عَشْرًا، فَأَتَيْتُ مُوسَى، فَقَالَ: مِثْلَهُ، فَجَعَلَهَا خَمْسًا، فَأَتَيْتُ مُوسَى فَقَالَ: مَا صَنَعْتَ؟ قُلْتُ: جَعَلَهَا خَمْسًا، فَقَالَ مِثْلَهُ، قُلْتُ: سَلَّمْتُ بِخَيْرٍ، فَنُودِىَ إِنِّي قَدْ أَمْضَيْتُ فَرِيضَتِي، وَخَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِي، وَأَجْزِى الحَسَنَةَ عَشْرًا، وَقَالَ هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الحَسَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي البَيْتِ المَعْمُور.

د بخاري يو روايت دا دئ:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ " فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِى، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِى ثُمَّ أَطْبَقَهُ، ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِى فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ. قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ. قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِي مُحَمَّدٌ صلى الله عليه و سلم. فَقَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ. فَلَمَّا فَتَحَ

عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا، فَإِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ، إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَسَارِهِ بَكَى، فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالاِبْنِ الصَّالِحِ. قُلْتُ لِجِبْرِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا آدَمُ. وَهَذِهِ الأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ، فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ، وَالأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ، فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى، حَتَّى عَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ. فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الأَوَّلُ فَفَتَحَ ". قَالَ أَنَسٌ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ، غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا، وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ. قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِالنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم بِإِدْرِيسَ قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ. فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ. ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى. ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا عِيسَى. ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالاِبْنِ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُ صلى الله عليه و سلم ". قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الأَنْصَارِيَّ كَانَا يَقُولاَنِ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم " ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوًى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الأَقْلاَمِ ". قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ

قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم " فَفَرَضَ اللَّهُ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلاَةً، فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى فَقَالَ مَا فَرَضَ اللَّهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ خَمْسِينَ صَلاَةً. قَالَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ. فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى قُلْتُ وَضَعَ شَطْرَهَا. فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ، فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ، فَرَاجَعْتُهُ. فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهْىَ خَمْسُونَ، لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَىَّ. فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ. فَقُلْتُ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي. ثُمَّ انْطَلَقَ بِي حَتَّى انْتَهَى بِي إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى، وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لاَ أَدْرِي مَا هِيَ، ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ، فَإِذَا فِيهَا حَبَايِلُ اللُّؤْلُؤِ، وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ". بخاري:۳۴۹

له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: ابو ذر رضي الله عنه به ويل چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: "په داسي حال کي چي زه په مکه کي وم؛ د کور چت مي پرانيستل شو، جبرئيل (عليه السلام) راکوز شو، زما سينه ئې پرانيسته او د زمزم په اوبو ئې ومينځله، بيا ئې د سرو زرو طشت راوړ چي له حکمت او ايمان ډک وو او زما په سينه کي ئې تش کړ، بيا ئې سينه راته بنده کړه، بيا ئې له لاس ونيولم او لومړي آسمان ته ئې وخېژولم، کله چي لومړي آسمان ته ورسېدم؛ جبرئيل (عليه السلام) د آسمان خازن (ساتونکي) ته وويل: دروازه پرانيزه؛ هغه وويل: څوک يې؟ وئې ويل: زه جبرئيل يم. هغه وويل: آيا بل څوک درسره شته؟ جبرئيل (عليه السلام) وويل: هو؛ محمد صلى الله عليه و سلم راسره دئ. هغه (خازن) وويل: آيا په ده پسي څوک لېږل شوی (بلل شوی)؟ جبرئيل (عليه السلام) وويل: هو؛ او کله

چې ئې دروازه پرانيستله نو لومړي آسمان ته پورته شوو؛ گورو چې يو سړی ناست دئ، ښي اړخ ته ئې سړي دي او کيڼ اړخ ته ئې هم سړي دي، کله چې ښی خوا ته وگوري وخاندي او چې کيڼ اړخ ته وگوري نو وژاړي؛ ما ته ئې وويل: صالح پيغمبر او صالح زوی ته هرکلی وايم. ما جبرئيل (عليه السلام) ته وويل: دا څوک دئ؟ هغه وويل: دا آدم (عليه السلام) دئ او دا چې ښي او کيڼ اړخ ته ئې گورې دا ئې د اولاد ارواح دي؛ هغه چې ښي اړخ ته ئې دي هغوی جنتيان دي او هغه چې کيڼ اړخ ته ئې دي هغوی دوزخيان دي، نو کله چې ښی خوا ته گوري خاندي او چې کيڼې خوا ته گوري ژاړي. بيا ئې دوهم آسمان ته پورته کړم؛ خازن ته ئې وويل: پرانيزه! دې خازن هم د لومړي خازن په څېر خبره وکړه؛ بيا ئې دروازه پرانيستله. انس رضي الله عنه وايي چې ابوذر رضي الله عنه وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم په آسمانونو کې آدم، ادريس، موسی، عيسی او ابراهيم (عليهم السلام) ليدلي، خو ابوذر د هغوی ځايونه نشو تثبيتولی، يوازې دومره ئې په ياد وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په لومړي آسمان کې آدم (عليه السلام) او په شپږم آسمان کې ابراهيم (عليه السلام) وليد. انس رضي الله عنه وايي: کله چې محمد صلى الله عليه و سلم له جبرئيل (عليه السلام) سره ادريس (عليه السلام) ته ورسېد؛ هغه ورته وويل: صالح پيغمبر او صالح ورور ته هرکلی وايم. محمد صلى الله عليه و سلم وايي: (ما وويل: دا څوک دئ؟) جبرئيل (عليه السلام) وويل: دا ادريس دئ بيا موسی (عليه السلام) ته ورغلم؛ هغه وويل: صالح نبي او صالح ورور ته هرکلی وايم، ما وويل: (دا څوک دئ؟) جبرئيل (عليه السلام) وويل: دا موسی (عليه السلام) دئ. بيا عيسی (عليه السلام) ته ورسېدم؛ هغه وويل: صالح ورور او صالح نبي ته هرکلی وايم. ما وويل: (داڅوک دئ؟) جبرئيل (عليه السلام) وويل: دا عيسی (عليه السلام) دئ. بيا ابراهيم (عليه السلام) ته ورغلم هغه وويل: صالح نبي او صالح زوی ته هرکلی وايم. ما وويل: (دا څوک دئ؟)

جبرئيل (عليه السلام) وويل: دا ابراهيم (عليه السلام) دئ. ابن شهاب وايي چي ابن حزم راته ويلي: ابن عباس رضي الله عنهما او ابو حبة انصاري رضي الله عنه به ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (بيا لوړ بوتلى شوم او هغه ځاى ته پورته شوم چي د (ملائکو) د قلمونو آواز مي اورېدو). انس بن مالک رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (بيا الله تعالى زما پر امت (هره ورځ) پنځوس لمونځونه فرض کړل؛ زه له همدې حکم سره راوگرځېدم، تر هغه چي موسى (عليه السلام) ته ورسېدم، هغه راته وويل: الله تعالى ستا پر امت څه فرض کړل؟ ما وويل: پنځوس لمونځونه ئې فرض کړل. موسى (عليه السلام) وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ستا امت د دې توان نلري، زه بېرته وروگرځېدم، نو يوه برخه ئې ترې کم کړل، بېرته چي موسى (عليه السلام) ته ورغلم، ورته ومي ويل: الله تعالى يوه برخه ترې ساقطه کړه، موسى (عليه السلام) وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ستا امت د دې توان نلرى، زه بېرته وروگرځېدم، الله تعالى ئې يوه برخه راته ساقطه کړه، بيا موسى (عليه السلام) ته ورغلم، هغه راته وويل: بېرته خپل رب ته رجوع وکړه، ستا امت د دې توان او وس نلري، ما بيا الله تعالى ته مراجعه وکړه، هغه راته وفرمايل: دا پنځه دي خو پنځوس شمېرل کېږي، (په شمېر پنځه او ثواب ئې د پنځوسو)، لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ: زما خوا ته وينا بدلېدونکې نه ده، زه بيا موسى (عليه السلام) ته ورغلم هغه راته وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ما وويل: زه له خپل رب حياء کوم، بيا جبرئيل (عليه السلام) روان کړم تر هغه چي (سدرة المنتهى) ته ئې بوتلم؛ او دا ځاى داسي رنگونو پوښلى وو چي توصيف ئې نه شم کولى، بيا جنت ته داخل کړى شوم، په جنت کي د ملغلرو مزي ول او خاوره ئې له مشکو وه).

دا روايت په بخاري کي په دغو شمېرو اوه ځلي نور په تکرار سره راغلى: ١٦٣٦، ٣٣٤٢، ٣٥٧٠، ٤٩٦٤، ٥٦١٠، ٦٥٨١، ٧٥١٧، چي په هغوى

کې دا توپيرونه تر سترګو کېږي: دوه روايتونه وايي چي دا عروج په خوب کې وو، په ۳۵۷۰ روايت کې راغلي حَتَّى جَاءُوا لَيْلَةً أُخْرَى، فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ، وَالنَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلاَ يَنَامُ قَلْبُهُ وَكَذَلِكَ الأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلاَ تَنَامُ قُلُوبُهُمْ، فَتَوَلاَّهُ جبرئيل ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ او په ۷۵۱۷ روايت کې راغلي وَاسْتَيْقَظَ وَهْوَ فِي مَسْجِدِ الْحَرَامِ په نورو کې ئې دا برخه نه ده راغلې او پر ځای ئې د دې خلاف د مسجد الحرام پر ځای په مکه کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د کور يادونه شوې ګواکې له خپل کور بېول شوی.

په پورتني روايت کې تر سدرة المنتهى وړاندې د الله حضور ته رسېدل او د لمونځونو په اړه لارښووني راغلې؛ خو په نورو رواياتو کې بالعکس ويل شوي چي له سدرة المنتهى وروسته بر بېول شوی.

د احاديثو په نورو کتابونو کې هم په دې اړه ګڼ شمېر روايات راغلي، ټول پنځه ويشت روايات دي، خو تر منځ ئې ډېر توپيرونه او ژور تعارض تر سترګو کېږي، د دغو متعارضو رواياتو له ليدو سره به تاسو ته دغه پوښتني راولاړېږي: آيا معراج په ويښه وو که په خوب کې؟ پر براق که بې له براقه؟ د رسول الله صلى الله عليه و سلم له کور که له مسجد الحرام؟ مستقيماً د آسمان په لور که لومړی بيت المقدس ته او بيا له هغه ځای آسمان ته؟ آيا لمونځ تر دې د مخه فرض شوی وو که له دې وروسته؟ په آسمانونو کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدنه له پيغمبرانو عليهم السلام سره په کوم ترتيب ترسره شوې، په لومړي، دوهم، درېيم، څلورم، پنځم، شپږم او اوم آسمان کې ئې څوك څوك ليدلي؟ په لومړي آسمان کې ئې آدم عليه السلام ليدلی که عيسى عليه السلام؟ ابراهيم عليه السلام ئې په شپږم آسمان کې ليدلی که په اوم کې؟ موسى عليه السلام ئې په اوم کې ليدلی که ابراهيم عليه السلام؟ هارون عليه السلام ئې ليدلی که نه؟ په دغو متعارضو رواياتو کې کوم يو صحيح دئ؟ سدرة المنتهى چېري ده؟ هلته ئې جبرئيل عليه السلام ليدلی که الله

تعالى؟ الله تعالى ئې په خپلو سترګو ليدلى که نه؟ په هري مراجعې کې پنځه پنځه ځمونځونه کم شوي که لس لس او که څيني؟ د دې معنى څه ده چې هر ځل د الله تعالى په پرېکړې کې بدلون راغلى خو سره له دې ويل شوي: لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ؟: زما نزد کې وينا نه بدلېږي. آيا دا آيت په قرآن کې په همدې ارتباط راغلى؟ قرآن د معراج په اړه څه وايي؟ آيا په قرآن کې د دې رواياتو لپاره کوم شاهد موندلى شو؟ د معراج په اړه د متعارضو رواياتو له منځ به يو څنګه انتخابوو؟ کوم يوه ته به په کوم دليل صحيح وايو او بل به يوې خوا ته ږدو؟ دا هغه پوښتني دي چې نه امام بخاري رحمه الله ځواب ورته ويلى، نه ئې د بخاري په رواياتو کې ځواب موندلى شو او نه په نورو رواياتو کې. له دې پرته بله چاره نه لرو چې دا روايات به د قرآن په تله تلو او هغه به ئې صحيح ګڼو چې له قرآن سره تطابق ولري يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري.

اوس له هغو چې نه د قرآن صراحتونو ته اعتناء کوي، نه هغه روايات مني چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم دا سفر له مکې او په خوب کې پيل کړى او په خوب کې ئې پاى ته رسولى او د سفر په پاى کې په داسي حال کې راويښ شوى چې په همغه مسجد الحرام او په خپل ځاى کې وو؛ له دوى دا پوښتني لرو:

۱- د هغو ګڼ شمېر رواياتو په اړه به څه کوو چې وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم إسراء او معراج فقط يو خوب وو؛ دا روايات لږ هم نه بلکې په لسګونو دي او د ټولو اړوند رواياتو تر نوي سلنه هم زيات دي؟!!

۲- نه پوهېږو چې ستاسو مجبوريت څه دئ او ولې په داسي رأيي ټينګار کوئ چې په قرآن کې ورته شاهد نه مومو او د ډېرى رواياتو خلاف ده؟ نه ئې نقل مني او نه عقل!! په کومي ذهني لومي کې ښنتي (نښتي) يئ او ترې وتلى نشئ؟ که ووايئ: معراج يوه رسولانه رؤيا وه؛ د قرآن وينا همدا ده او تر نوي سلنه د زياتو رواياتو وينا همدا ده؛ نو څه زيان به

مو کړی وي؟ په دنیا او آخرت کې به له کومې ستونزې او اشکال سره مخامخ شئ؟ موږ خو په رؤیا باور لرو؛ دا مو د ایمان یو رکن او د نبوت شپږ څلوېښتم جزء دئ:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الرُّؤْيَا الْحَسَنَةُ مِنْ الرَّجُلِ الصَّالِحِ، جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنْ النُّبُوَّةِ"

له انس بن مالك روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د صالح انسان نېکه رؤیا د نبوت شپږ څلوېښتمه برخه ده.

قرآن یوازې د معراج خوب نه؛ بلکې ګڼ شمېر مهم خوبونه زموږ مخې ته ږدي؛ د ابراهیم علیه السلام خوب، د حدیبیې اړوند د پیغمبر علیه السلام خوب، د یوسف علیه السلام خوب، د ده د دوو زنداني ملګرو خوبونه، د مصر د ملك خوب.

اکثریت روایات همدا وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د شپې په خوب ویده وو؛ په مسجد الحرام یا خپل کور یا مکه کې، ناڅاپي ګوري چې سقف پرانیستل شوی، فرشته ورته راغلې،.... دی ئې له ځان سره بېولی، تر مسجد الاقصی او له هغه ځای تر سدرة المنتهی پورې رسېدلی او په پای کې ورته ویل شوي چې په بسم الله سره کوز شه او په داسې حال کې راویښ شوی چې ځان په مسجد الحرام کې ګوري. آیا دا له رؤیا پرته بل څه کېدی شي؟!!

## د انسان د خوب او ویښې توپیرونه

انسان داسې دئ چې د شپې په تیاره کې څه نشي لیدلی؛ خو په خوب کې ئې لیدی شي؛ کله کله ئې په خوب کې لیدنه دومره دقیقه، جامع، وسیع او سریع وي چې د ویښې لیدا ئې ورسره مقایسه کېدی نشي، په خوب کې په داسې اسرارو پوهېدی شي چې په ویښه ورته ممکنه نه وي، د خوب لیدا ډېره سریع وي، په لنډ وخت کې دومره څه لیدلی شي چې په ویښه ئې په اوږدې مودې کې هم نشي لیدلی، هغه خلك چې د رؤیا

ليدنې ته په ټيټه سترګه ګوري او خاص اهميت نه ورکوي په دې خبرې باور کول ورته ګران برېښي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د معراج سفر د رؤيا سفر وګڼي؛ له همدې کبله د قرآن او حديث د صريح وينا په وړاندې د تذبذب ښکار شي او په منلو کې ئې زړه نا زړه وي، د منلو پر ځاى داسي لارې لټوي چې د ده غلطه رأى د توجيه وړ ثابته کړي؛ خو څوك چې رؤيا ته د قرآن له مخې ګوري هغه پوهېږي چې داسي سفر يوه انسان ته يوازې په رؤيا کې ممکن دئ نه په ويښه. که دا د ويښې سفر وي نو حتماً به د ورځې له لورې وو، کله چې د انسان روح د کالبد په قيد کې وي نو د سترګو لرې ليد ئې دومره کمزورى وي چې څو کيلو متره لرې لوى لوى شيان هم نشي ليدى، د نرۍ پردې له شا څه نشي ليدى، له رڼا پرته څه نشي ليدى، د شپې په تياره کې څه نه ويني؛ خو کله چې روح په نسبي توګه د کالبد له قيد او محدودې آزاده شي نو له پرېړو پرېړو حجابونو واوړي؛ هم د ماضي له پېښو خبرېږي او هم د مستقبل له اسرارو، نه ئې تياره مخه نيولى شي او نه حجـابونه، هم په نسبي توګه د زمان له محدودې ووځي او هم د مکان، د شپې په تياره کې داسي ويني لکه د ورځې په رڼا کې. د ويښې ليدا ئې د مخ په دوو سترګو وي او د رؤيا ليدا ئې د زړه په سترګو.

يو مثال ئې د مصر د هغه غير مسلم مَلِك خوب دئ چې د پنځلسو کلونو مهمې پېښې د څو ثانيو په رؤيا کې ورته انځور شوې وې؛ په خوب کې ګوري چې اوه څوربې غواوې؛ اوه ډنګرې غواوې وخوري او اوه شنه وږي او اوه نور وچ؛ له درباريانو ئې وغوښتل چې د خوب په تعبير ئې خبر کړي؛ هغوى (په خواب کې) وويل: دا هسې ګډ وډ خوبونه دي او موږ د دغو خيالي خوبونو په تعبير نه پوهېږو. له يوسف عليه السلام د تعبير غوښتنه کوي او هغه له ځنډ پرته او فوراً وايي: تر اوو کلونو به پر له پسې کر کښت کوئ، څه چې تر لاسه کوئ په خپلو وږيو کې ئې پرېږدئ مګر هغه لږه برخه ئې چې خورئ ئې، بيا به له دې وروسته اوه

نور سخت (کلونه) راشي، چې هغه به ټول هغه څه درنه وخوري چې ورته ذخیره کړي مو وي، مګر هغه لږه برخه چې ساتئ ئې. بیا به له دې وروسته داسي کال راشي چې په هغه کې به پر خلکو بارانونه ووربږي او په هغه کې به (خلك د مېوو) عصاره وباسي.

رؤیا همداسي وي؛ د انځورونو او رمزونو په ژبه؛ د کلونو کلونو پېښې په څو ثانیو کې ستا مخې ته تېروي. د معراج هغه اوږد سفر چې له زمکي پیل شوی او له اوو آسمانونو بر تر سدرة المنتهی پوري رسېدلی؛ یوازي په رؤیا سره ممکن دئ؛ نه په ویښه؛ همدا د الله تعالی ثابت او نه بدلېدونکی سنت دئ او همدا د انسان فطرت او جبلت؛ هم د مؤمن په ارتباط او هم د کافر.

اجازه راکړئ؛ زه د تېري چهارشنبې شپې یوه رؤیا درسره شریکه کړم: په یوې خوني کې له یو شمېر خلکو سره دسترخان ته ناست او ډوډي خورو؛ ابراهیم علیه السلام د دسترخان بل اړخ ته ناست وي؛ د هغه چا کیڼ لاس ته چې ما ته مخامخ ناست وي؛ په خبرو مصروف یو؛ خبري مي په یاد نه دي؛ خو ما ته په دې رؤیا کې هغه پیغام پروت وو چې سخت ورته اړ وم او زما د ډاډ او خوشحالۍ باعث شوی؛ او هغه دا چې له ابراهیم علیه السلام سره یو ځای له یوه دسترخان تغذیه کېږو؛ یعني چې د هغه د امتي په توګه قبول شوی یم او په فکري لحاظ له یوې منبع تغذیه کېږو!! په خوبونو کې پیغامونه دغسي انځورېږي.

د قرآن په رڼا کې د معراج اړوند روایاتو په اړه څو خبري باید په پام کې ولرو:

- قرآن د إسراء سوره کې وایي چې دا سفر له مسجد الحرام تر مسجد الاقصی پوري وو، مزید ئې څه نه دي ویلي چې له مسجد الاقصی وروسته څه شوي، خو د النجم په سوره کې د دې سفر نوري برخي هم بیان شوې، د دې معنی دا ده چې هغه روایات د منلو وړ نه دي چې وایي: د معراج سفر د رسول الله صلی الله علیه و سلم له کور مخامخ د آسمان په لور

پيل شوی.

• قرآن وايي چي په دې سفر کي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ستر ستر آيتونه ښودل شوي، جبرئيل عليه السلام ئې يو ځل بيا په خپلي اصلي بڼي کي ليدلی، سدرة المنتهی ته رسېدلی، د سدرة المنتهی له نامه معلومېږي چي دا د آسمانونو پای او انتهاء ده، له دې آخوا نه لوړه شته او نه مخلوق شته، د قرآن د وينا له مخي جنتونه هم دلته دي، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم هم اوه آسمانونه ليدلي او هم جنت. هغه روايات صحيح نه دي چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم دلته الله تعالی په خپلو سترګو ليـدلی؛ دا خبره هم له قرآن سره په بشپړه توګه تعارض لري او هم له ګڼ شمېر هغو رواياتو سره چي وايي: انسان نشي کولی په دنيا کي او په دغو سترګو الله تعالی وګوري. پيغمبر عليه السلام د يو چا په ځواب کي فرمايي چي الله تعالی نور دئ نو څنګه به ليدل کېږي؟! جبرئيل عليه السلام د رسول الله صلی الله عليه و سلم د دې پوښتني چي آيا الله تعالی دي ليدلی؟ په ځواب کي وايي: زما او الله تعالی تر منځ د نور اويا زره حجابونه دي، که لانديني حجاب ته ورنژدې شم وزرونه مي سوزي!! قرآن دلته وايي چي هغه ئې يو ځل مخکي هم ليدلی وو، له دې په صراحت سره معلومېږي چي دا جبرئيل عليه السلام وو چي تر دې د مخه ئې هم ليدلی وو چي دې ليدني ته د التکوير سورې په ۲۳ آيت کي داسي اشاره شوې:

وَلَقَدۡ رَءَاهُ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡمُبِينِ:

او بې شکه چي هغه ئې په افق کي په ښکاره توګه ليدلی.

دې دوهم ځل ليدني ته په احاديثو کي هم اشاره شوې چي په خپل ځای کي به ئې وګورئ.

عائشه رضي الله عنها وايي: که چا درته وويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم خپل رب ليدلی نو پوه شه چي هغه دروغ وايي. ځکه قرآن فرمايي:

لا تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴿۱۰۳﴾ الأنعام
سترګې ئې درك كولی نشي او دی سترګي درك كوي؛ او دی خبير لطيف دئ.

- د قرآن كوم آيت چي وايي: مَا يُبَدَّلُ ٱلْقَوْلُ لَدَيَّ... دا د (ق) سورې د ۲۹ آيت يوه فِقره ده چي د قيامت په ورځ د دوزخيانو تر منځ د شخړي په اړه راغلې او مطلب ئې دا دئ چي د الله تعالى پرېكړې پرېكنده او تغيير نه منونكې دي او هغه پر خپلو بندګانو ظلم نه كوي، هر چا ته به عادلانه سزا وركوي. دا آيت له يوې خوا د معراج له سفر سره هيڅ تړاو نه لري؛ له بلي خوا د روايت له هغي برخي سره په بشپړه توګه تعارض لري چي وايي الله تعالى د لمانځه په اړه خپله پرېكړه څو څو ځلي بدله كړې ده!!
- د إسراء سوره له ډېرو هغو سورتونو وروسته نازله شوې چي په هغوی كې هم د لمانځه امر راغلی او هم د لمانځه وختونو ته اشاره شوې، له ځينو رواياتو داسي معلومېږي چي ګواكې لمونځونه د معراج په سفر كې فرض شوي!! دا خبره له قرآن سره قطعاً اړخ نه لګوي؛ په ډېر يقين سره ويلی شو چي د معراج له سفر مخكې هم لمونځونه فرض شوي وو او هم ئې اوقات ټاكل شوي وو. د كوثر، المدثر، المزمل، هود، طه، العنكبوت، الانعام، الحجر، الحج، الروم، په سورتونو كې د لمانځه امر شوی، دا ټول له الإسراء وړاندي نازل شوي. د هود په سوره كې داسي راغلي:

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿۱۱۴﴾ هود

او د ورځي په دواړو خواوو كې او (ورپسي نژدې) د شپې ځيني برخي كې لمونځ كوه؛ يقيناً چي ښېګڼې؛ بدي له منځه وړي، دا د پند اخيستونكو لپاره پند دئ.

د آيت له الفاظو داسي معلومېږي چي له (طرفي النهار) مراد د ورځي دواړه خواوي دي، له غرمې مخکي او وروسته برخي ئې، چي په دې سره د ګهيځ، ماسپښين او مازديګر لمونځونو ته اشاره شوې او له (زلفا من الليل) مراد د شپې هغه لومړنۍ برخه مراد ده چي ورځي ته نژدې وي؛ چي په دې سره د ماښام او ماخستن لمونځونو ته اشاره شوې.

د إسراء په سوره کي هم د لمانځه او اوقاتو په اړه ئې لارښوونه شوې او وايي:

أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمْسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيْلِ وَقُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ ۖ إِنَّ قُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا ﴿٧٨﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا ﴿٧٩﴾ الإسراء

د لمر له زوال د شپې تر پخېدو پوري لمونځ کوه او په سباوون کي د قرآن قرائت؛ يقيناً چي د سباوون قرآن ويل مشهود وي. او د شپې په يوې برخي کي تهجد کوه (پر لمانځه بې خوبي ګاله) ستا لپاره اضافي (کار)؛ هيله ده چي ستا رب دي په ستايل شوي مقام راپاڅوي.

په دغو مبارکو آيتونو کي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د پنځه وخته فرض لمونځ او د تهجد د لمونځ سپارښتنه شوې؛ د لمر له زوال د شپې تر پخېدو پوري څلور لمونځونه: ماپښين (ماسپښين)، مازديګر، ماښام او ماخستن، په قرآن الفجر سره د سحر لمونځ او د شپې په يوې برخي کي د تهجد لمونځ؛ که د إسراء له سورې مخکي د لمانځه او د هغه د وختونو هيڅ يادونه نه وی شوې نو ويلی مو شول چي لمونځ د معراج د روايت له مخي فرض شوی؛ خو خبره د دې عکس ده، تر معراج ډېر د مخه هم لمونځ فرض شوی وو او هم ئې اوقات ټاکل شوي وو.

له ګڼ شمېر آيتونو او رواياتو معلومېږي:

- لمونځونه د معراج له سفر مخکي فرض شوي وو.
- د معراج روحاني سفر په هغه شپه تر سره شوی چي رسول الله صلى

الله علیه و سلم په مکه کې وو؛ اما دا چې په مشخصه توګه د مکې کوم ځای کې؛ په دې اړه روایات بېل بېل ځایونه ښیي؛ لکه: حطیم، الحجر، مسجد الکعبه، مسجد الحرام، د رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل کور، د ام هاني کور؛ قرآن وایي چې دا له مسجد الحرام پیل شوی.

- په داسي حال کې فرشتې ورته راغلې چې دی په مسجد الحرام کې ویده وو.
- په داسي حال کې د معراج سفر پای ته رسېدلی چې دی په مسجد الحرام کې له خوبه راویښ شوی.
- لږ روایات (دوه درې) وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په بُرَاق او له جبرائیل علیه السلام سره یو ځای سپور شوی او په سفر تللی؛ نور او اکثر روایات د براق یادونه نه کوي او وایي: جبرئیل تر لاس نیولی او بر ئې بېولی؛ جبرئیل دومره عظیم او ستر دئ چې کله رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپل اصلي هیئت کې لیدلی نو د آسمان افق پرې ډك وو؛ او دومره سریع دئ چې کولی شي د سترګي په رپ کې له آسمانونو زمکي ته راورسېږي؛ دا ستره هستي به ولي او څنګه پر براق (د کچري په اندازه وړوکي حیوان) سپرېږي؟ دا هم نه دي ویل شوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په خوب کې جبرئیل علیه السلام په څنګه هیئت کې لیدلی؛ په خپل اصلي هیئت کې که د انسان په بڼې کې.

شیعه هم د معراج په اړه ځانته روایات لري، د روایاتو څرنګوالی ئې له دې قیاس کولی شئ چې وایي: فاطمه رضي الله عنها د هغي جنتي مېوې له نطفې پیدا شوې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د معراج په سفر کې جبرئیل علیه السلام ورکړه، هغه خلوېښت ورځي له ځان سره وساتله، په دې مودې کې ئې له خدیجې رضي الله عنها سره نژدېکت ونه کړ؛ او په څلوېښتمه شپه ئې دا مېوه وخوړه او بیا ئې له هغې سره نژدېکت وکړ او په همدې سره او همغه شپه د فاطمې رضي الله عنها نطفه خلق شوه!! دا په داسي حال کې چې د معراج واقعه تر

هجرت یو کال مخکې او هغه مهال شوې چې خدیجه رضي الله عنها لا څو کاله د مخه وفات شوې وه او فاطمه رضي الله عنها پېغلتوب ته رسېدلې وه!! دغسې مسخره روایاتو په امت کې د خرافي افکارو او غلطو مذاهبو راولاړېدو ته لار آواره کړې او امت ئې ټوټې ټوټې کړی.

په مخکیني درس کې مو دا وویل چې د إسراء سوره له ډېرو هغو سورتونو وروسته نازله شوې چې په هغوی کې هم د لمانځه امر راغلی او هم د لمانځه وختونو ته اشاره شوې؛ دا ټول سورتونه ښیي چې لمونځ د معراج تر سفر ډېر کلونه وړاندې فرض شوی؛ خو تاسو داسې روایات ولیدل چې وایي لمونځونه د معراج په سفر کې فرض شوي!! دا خبره له قرآن سره قطعاً اړخ نه لګوي؛ په ډېر یقین سره ویلی شو چې د معراج له سفر مخکې هم لمونځونه فرض شوي وو او هم ئې اوقات ټاکل شوي وو. د علق، کوثر، مدثر، مزمل، هود، طه، عنکبوت، الانعام، الحجر، الحج، الروم، په سورتونو کې د لمانځه یادونه او امر او وختونو ته ئې اشاره شوې، دا ټول له الإسراء وړاندې نازل شوي.

په لومړۍ نازل شوې سورې العلق کې داسې راغلي:

أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يَنْهَىٰ ﴿٩﴾ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴿١٠﴾ العلق

آیا ودې لید هغه چې مخنیوی کوي؟ ۱۰- د یوه بنده چې کله لمونځ کوي.

د هود په سوره کې داسې راغلي:

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ ۚ إِنَّ ٱلْحَسَنَـٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾ هود

او د ورځې په دواړو خواوو کې او (ورپسې نژدې) د شپې ځینې برخې کې لمونځ کوه؛ یقیناً چې ښېګنې بدي له منځه وړي، دا د پند اخیستونکو لپاره پند دئ.

د دې آیت له الفاظو داسې معلومېږي چې له (طرفي النهار) مراد د

ورځې دواړه خواوې دي، له غرمې مخکې او وروسته برخې ئې، چې په دې سره د ګهيځ، ماسپښين او مازديګر لمونځونو ته اشاره شوې او له (زلفا من الليل) مراد د شپې هغه لومړنۍ برخه مراد ده چې ورځې ته نژدې وي؛ چې په دې سره د ماښام او ماخستن لمونځونو ته اشاره شوې. پيغمبر عليه السلام د دغو آيتونو له دغسې ويناوو او اشارو په دې پوهېدلی چې د لمانځه اوقات کوم دي؛ قرآن کې دا راغلي چې د لمانځه ترتيب به ئې څنګه وي، الفاظ به ئې کوم وي، حرکات به ئې کوم وي، اول به کوم وي، دوهم به کوم وي او اوقات به ئې کوم وي. قران کې د دې يادونه شوې ده، پيغمبر عليه السلام له همدې پوهېدلی چې د ورځې په پنځو لمونځو باندې مکلف دئ او اوقات ئې هم دا دا دي او دا ټول د إسراء له سورې مخکې نازل شوي دي.

يقيناً چې د امت يوه ستره ستونزه له متعارضو او متضادو رواياتو راولاړه شوې؛ د رواياتو په يوه يوه کتاب کې به د يوې قضيې په اړه داسې متعارض روايات ومومئ چې يوازې يو ئې ترې غوره کولی شئ؛ دواړه هممهاله نشي منل کېدی. حتی د قرآن له صريح او څرګندو آيتونو سره متعارض روايات.

د امت يووالی دا ايجابوي چې د رواياتو کتابونه تنقيح شي او له ټولو يو کتاب جوړ شي؛ او يوازې هغه روايات په کې راغونډ شي چې د صحت ټول شرطونه په کې مراعات شوي وي؛ داسې چې:

- په قرآن کې ورته شاهد ومومو؛ يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري، دا ځکه چې حديث د قرآن شرح او تفصيل دئ؛ الله تعالی پيغمبر عليه السلام ته هم قرآن ورکړی او هم د قرآن دقيق فهم او د هغه د بيانولو او تفسير او تشريح مَلَکه او استعداد.
- روايت بايد له بل روايت سره تعارض ونه لري.
- راويان ئې ثقه وي، هر راوي په خپلې خوا کې دومره شاهدان ولري چې قرآن ئې د يوه مدعي د ادعاء ثابتولو لپاره ضروري ګڼي؛ لږ تر لږه

دوه، درې او څلور شاهدان.

- داسي خبره ئې نه وي کړې چي په ډېرو پېښو پوري مربوطه وي او ډېرو ته اورېدلې وي؛ خو راوي يوازي دئ؛ نه په خپل ځنګ کي بل څوك ورسره دئ او نه شاهد لري.
- د عقل، فطرت او علم خلاف خبره ئې نه وي کړې.
- او ډېر نور هغه شرائط چي محققين ئې د يوه روايت د صحت لپاره ضروري ګڼي.

## له متعارضو رواياتو راولاړ شوو اختلافاتو حل لاره

څوك چي په رواياتو کي په شفاف ذهن او صفا زړه سره تحقيق او څېړنه وکړي ورته معلومېږي چي متعارضو رواياتو په امت کي څومره خطرناکي ستونزي زېږولې دي؛ حتماً دې نتيجې ته رسېږي چي د دې ستونزو د حل يوازينۍ لار دا ده چي روايات تنقيح او د رواياتو کتابونه داسي توحيد شي چي ټول امت يوازي د صحيح احاديثو يو معتبر او ټول امت ته د منلو وړ کتاب ولري؛ دا کار هغو ته ګران برېښي يا ئې عمداً ګران بولي چي مذهبي اختلافات د دوی د تغذيې پټی او دکان دئ؛ له دې ئې د رزق تر لاسه کولو ذريعه جوړه کړې؛ اختلاف راولاړول ئې هغه مأموريت دئ چي د اسلام خطرناکو دښمنانو ورسپارلی؛ که دا مفسدين او مغرضين نه وی نو دا ستونزه په آساني حل کېدی شي. زه ئې د مثال په توګه ستاسو مخي ته د حل لار ږدم: صحاح سته: بخاري، مسلم، ترمذي، ابو داؤد، نسائي او ابن ماجه؛ هم د رواياتو د شمېر له پلوه سره نژدې دي او هم د محتوی له پلوه؛ د ځينو تکراري روايات لږ دي او د ځينو نسبتاً ډېر؛ د بخاري د اصلي رواياتو شمېر د کمپيوټر د دقيقي شمېرې له مخي ۷۵٦۳ دي؛ او په التجريد الصريح للجامع الصحيح کي د بخاري غير مکرر روايات ۲۲۰٦ دي. چي په دې توګه ۵۳۵۷ مکرر راغلي. په ډېری تکراري رواياتو کي له اصلي رواياتو سره لږ يا ډېر

توپیرونه او حتی تعارضات او تضادات تر سترګو کېږي؛ اما امام بخاري دا تعارضات نه دي رفع کړي او دا ئې نه دي ویلي چې په کوم یوه کې ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د کلام اصلي الفاظ له تغییر پرته راغلي؛ ځوك چې د بخاري کتاب مخي ته کښېني ورته ګرانه ده چې دا پرېکړه وکړی شي؛ ناچار به د هر روایت په پای کې وایي: او کما قال رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ نشي کولي خپلي پوښتني او یا د بل پوښتني ځواب کړي؛ دا پوښتني چې د توپیرونو وجه څه ده؟ کوم یوه ته پر بل ترجیح ورکړو؟ د ترجیح دلیل به ئې څه وي؟

که نن مخلص، صادق او بې تعصب محققین دا تکراري روایات له تنقیح او تصحیح وروسته او د قرآن او صحیح احادیثو په رڼا کې توحید کړي؛ نو بخاري به د اوسني حجم په پرتله درې نیم ځلي راکم شي؛ له ۷۵۰۰ به ۲۲۰۰ ته راکوز شي. همدا کار د روایاتو له نژدې ٤۳۰ کتابونو او مجلداتو سره کېدی شي؛ او له ټولو په ګډه د متفق علیه روایاتو داسي کتاب جوړېدی شي چې تر قرآن به ووړ وي. زه په بشپړ یقین سره ویلی شم چې د هغو صحیح روایاتو چې د صحت ټول شرائط په کې مراعات شوي وي؛ شمېر به ئې د قرآن د آیتونو په اندازه نه وي؛ د قرآن د آیتونو شمېر له ٦۲۳٦ تر ٦٦٦٦ پوري ښودل شوي؛ دا ځکه چې ځینو د یوه آیت دوه فقرې بېل بېل آیتونه ګڼلي او ځینو دوه پر له پسې آیتونه یو آیت ګڼلی. قرآن د احادیثو اساسي بنسټ دئ او احادیث د قرآن شرح او تفصیل؛ که په روایاتو کې د قرآن د ټولو آیتونو شرح او تفصیل راغلی وي نو د روایاتو شمېر به همدا څه باندي شپږ زره وو؛ اما د قرآن ډېری آیتونه دومره واضح دي چې شرح او تفسیر نه ایجابوي، ځیني ئې مجمل دي چې شرح او تفصیل ئې په خپله په قرآن کې راغلي. د قرآن د هغو مجمل آیتونو شمېر ډېر لږ دئ چې بشپړ فهم او عمق ته ئې رسېدنه د عام انسانانو د فهم له مستوی لوړه ده او د یوه پیغمبر فراست او درایت ایجابوي. دغو ټولو خبرو ته په پام سره ویلی شو چې د ټولو صحیح

رواياتو شمېر به د بخاري د اصلي رواياتو درې برابره او د قرآن د آيتونو په اندازه وو. دې ته هم بايد متوجه وو چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په مكي دور كې د احاديثو له ليكلو ممانعت كړی او امر ئې كړی وو چې چا د ده احاديث ليكلي وي هغه دي حذف كړي؛ له همدې كبله گورو چې په مكي دور پوري مربوط روايات ډېر لږ دي. ډېری روايات د مدني دور او هغه هم د وروستيو كلونو او ځوانو صحابه وو له لوري راغونډ شوي. دا هم بايد په پام كې ولرو چې الله تعالی خپل كتاب داسي معرفي كړی چې د هدايت لپاره كافي دئ او هر هغه څه په تفصيل سره په كې بيان شوي چې انسان ورته ضرورت لري.

وَمَا كَانَ هَذَا الْقُرْآنُ أَنْ يُفْتَرَى مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ تَصْدِيقَ الَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ الْكِتَابِ لا رَيْبَ فِيهِ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٣٧﴾ يونس

او دا قرآن داسي نه دئ چې له الله پرته دې (څوك) په دروغو جوړ كړی شي، خو ليكن د هغه څه تصديقوونكی دئ چې ترې مخكې وو او د كتاب تفصيلي بڼه، چې هيڅ شك پكې نشته؛ د عالميانو د رب له لوري.

دلته د قرآن څو ځانگړتياوي په گوته شوې:

- داسي دئ چې له الله تعالی پرته ئې هيڅوك د جوړولو توان نه لري؛ له هره پلوه داسي دئ چې له الله تعالی پرته ئې بل څوك پر وړاندي كولو قادر نه دئ.
- د مخكينيو الهي كتابونو تصديقوونكی دئ، كه څوك تر دې د مخه په كوم بل الهي كتاب ايمان لري، نو دا قرآن به داسي وومي چې د هغه كتاب د هر اساسي مطلب او هري مهمي خبري تصديق كوي، همغه څه وايي چې هغو كتابونو ويلي.
- دا د الهي كتابونو تفصيلي بڼه دئ، څه چې په نورو كتابونو كې په مجمله او مختصره توگه راغلي په قرآن كې په لازيات تفصيل او وضاحت سره راغلي.

- د شك مورد په کې موندلی نه شئ، هيڅوك نه شي توانېدی په قرآن کې داسي څه په ګوته کړي چي د هغه په حقانيت کې او په دې کې چي دا د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دئ شك او شبهه راولاړه کړي.
- د دې کتاب هر څه په دې ګواهي ورکوي چي د عالمیانو د رب له لوري لېږل شوی.

أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَى عَلَيْهِمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَى لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴿٥١﴾ العنكبوت

آيا دا ورته کفايت نه کوي چي موږ پر تا هغه کتاب نازل کړی چي پر دوی لوستل کېږي، يقيناً چي په دې کې د ايمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً رحمت او ذکر دئ.

لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِأُولِي الْأَلْبَابِ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَى وَلَكِنْ تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴿١١١﴾ يوسف

يقيناً چي د دوی په قصو کې د عقل خاوندانو ته ځانګړی پند او عبرت (پروت) دئ، دا هسي له ځانه جوړه شوې وينا نه ده، بلکي تر ځان د مخکينيو تصديق او تأييد دئ او د هر څه تفصيل او د ايمان راوړونکو لپاره لارښود او رحمت.

اوس پوښتنه کوو: معراج د مهمو مسائلو له جملې يوه موضوع ده، د بيان لپاره ئې يو روايت کافي وو؛ ټولو کتابونو بايد همدا يو روايت راوړی وی؛ نه په يوه کتاب کې مکرر او حتی متعارض روايات ليدل کېدی او نه د حديث په ټولو کتابونو کې. په رواياتو کې بايد هيڅ تعارض نه تر سترګو کېدی؛ د داسي راويانو روايات مو نه موندلی چي راوي ئې د محققينو له نظره متروك او کذاب وي؛ له قرآن سره متعارض روايت مو نه وی ليدلی... اما متأسفانه موږ له دغو ټولو ستونزو سره مخامخ يو؛

ام هاني رضي الله عنها ته منسوب روایت هم راغلی چي د متن او إسنادو د ضعف په اړه مو بحث کړی. آیا دا ټول نه ایجابوي چي امت باید د احادیثو یو متفق علیه کتاب ولري؟ لکه چي قرآن یو دئ او په هیڅ لفظ کې ئې د امت تر منځ اختلاف نشته؛ همداسي باید د احادیثو واحد او ټولو ته د منلو وړ کتاب ولرو؟!! یقیناً چي اسلامي امت همداسي کار ته ضرورت لري او یوازي له دې لاري کولی شو د مذهبي اختلافاتو ټغر ټول کړو.

د احادیثو د کتابونو د توحید او امت ته د صحیح احادیثو یوه متفق علیها مجموعه وړاندي کول؛ د هر هغه مؤمن داعي هیله ده چي پوهېږي د امت د اختلافاتو یو ستر عامل متعارض روایات دي؛ لکه چي امت یو قرآن لري باید د صحیح احادیثو یو کتاب ولري؛ داسي کتاب چي په هغه کې نه تکراري روایات وي؛ او نه د سند له پلوه ضعیف او غریب روایات او نه د متن له پلوه له قرآن سره متعارض روایات؛ د امت متقي او په قرآن او حدیث پوه علماءو یو درونـد هیئت باید دا کتابونه توحید کړي؛ ما دا مطلب په درسي حلقو کې هم مکرر ویلی او له ډېرو لوریو سره مي هم شریك کړی؛ د ترکیې جمهور رئیس اردوغان ته مي هم په دې اړه یو مفصل لیك لیږلی؛ او ورته لیکلي مي دي چي راشه د دې ستر سعادت تر لاسه کولو لپاره یوه اغېزمن او تاریخي اقدام ته ملا وتړه.

ښایي د ډېرو له نظره به دا کار مستحیل برېښي؛ خو زما باور دا دئ چي دا هم ممکن دئ او هم د امت د یووالي لپاره ډېر زیات ضروري؛ آبله ورځ ما ته درې جلده کتابونه په لاس راغلل چي د دې کار یوه لویه برخه ئې سر ته رسولې؛ نوم ئې مُعَالِمُ السنةِ النبویه دئ؛ د حدیث پنځلسو مهمو او معروفو کتابونو غیر تکراري روایات ئې په دریو جلدونو کې تنظیم کړي؛ لومړی ئې د دوی ټول روایات په ١٤ جلدونو کې راغونډ کړي؛ د ټولو کتابونو د روایاتو مجموعي شمېر ١١٤١٩٤ شوي؛ بیا ئې

مکرر روايات حذف کړي؛ چي په دې سره ئې شمېر ۲۸٤۳۰ شوی؛ بيا ئې هغه روايات توحيد کړي چي د معنی له پلوه سره ورته وو؛ او بيا ئې هغه توحيد کړي چي د سند له پلوه متفاوت خو د متن له پلوه سره ورته وو؛ او په دې توګه له ټولو ۳۹۲۱ روايات جوړ شوي. زما تخمين او حدس همدا وو؛ تاسو ته مي ويلي وو چي ښايي د ټولو رواياتو شمېر به دومره وي چي د مصحف په اندازه کتاب به ترې جوړ شي. له دغو ۳۹۲۱ رواياتو همدمره کتاب جوړېږي. چا چي دا کتاب تصنيف کړی؛ صالح احمد الشامي نومېږي؛ په دې کتاب کي ئې د رواياتو د صحت په اړه د هغو محققينو رأی ته اعتبار ورکړی چي د سند او راويانو له مخي ئې د صحت پرېکړه کړې؛ اوس په دې ارتباط يوه بل مهم او اساسي کار ته اړ يو؛ داسي چي همدا ۳۹۲۱ غوره شوي روايات د يوه دروند هيئت له لوري د متن له پلوه وڅېړل شي او د قرآن په رڼا کي تنقيح شي؛ په دې کي هيڅ شك نشته چي د هر صحيح حديث لپاره به حتماً په قرآن کي څرګنده منشأ ومومو.

د دې کتاب دا ۳۹۲۱ روايات د دغو کتابونو له ټولو رواياتو غوره شوي: ۱- مُوَطَّأ، ۲- مُسْنَد احمد، ۳- بخاري، ٤- مسلم، ۵- سنن ابي داؤد، ٦- سنن الترمذي، ۷- سنن النسائي، ۸- سنن ابن ماجه، ۹- سنن الدارمي، ۱۰- سنن الکبری للبيهقي، ۱۲- صحيح ابن خزيمه، ۱۳- صحيح ابن حبان، ۱٤- مستدرك الحاکم او ۱۵- الاحاديث المختاره للإمام المَقْدِسِي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## فهرست

**عنوان** **صفحه**

سريزه -------------------------------------------------------۱
معراج او حقيقت ئې ------------------------------------------ ۱۰
قرآن د معراج په اړه څه ويلي؟-----------------------------------------۱۲
هغه آيتونه چي وايي معراج يوه رؤيا وه--------------------------------۱٤
د النجم سوره کې د معراج په اړه څه ويل شوي؟ --------------------------۱۷
د موسی عليه السلام معراج په زمکي کې وو ------------------------------۲۲
د (شهود) او (حضور) غلطه ادعاء----------------------------------------۲۵
قريشو ولي له رسول الله غوښتل چي آسمان ته وخېژي؟----------------۲۶
روايات د معراج په اړه څه وايي؟----------------------------------------۲۹
آيا ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له معراج وروسته ايمان راوړی؟! --------------۷۱
آيا معراج او د لمونځونو فرضېدا تر بعثت وړاندي وو؟-------------------۷۹
د انسان د خوب او ويښي توپيرونه------------------------------- ۱۱۵
له متعارضو رواياتو راولاړ شوو اختلافاتو حل لاره------------------ ۱۲٤

## د کتاب له متن:

د معراج د څرنګوالي په اړه هم په امت کې د شــدید اختلاف شــاهد یو، دا اختلاف هم له متعارضـو روایاتو راولاړ شــوی، ځیني روایات داسي دي چي ښیي د معراج سفر جســماني وو او په ویښــــه ترسره شوی؛ او ځیني ئې داسي چي ښيي دا یوه رؤیا او روحاني سفر وو.

د معـراج لغوي معنــی د عــروج او لوړتګ وخت، وسیله او مکان دئ؛ په اسـلامي فرهنګ کې درســول الله صــلی الله علیه و ســـلم هغه روحاني سفر ته ویل شوي چي له مسجد الحرام تر مســجد الاقصیـــ (بیت المُقَدَّس) او سدرة المنتهــــــی پوري وو او د الإسراء او النجم په سورتونو کې ورته اجمالي اشـاره شــوې او هم په ګڼ شمېر روایتونو کې چي شمېر ئې شـا او خوا ۲۵ ته رسېږي.

د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷